کابل

ادبي، تاریخي او اجتماعي

Nov. Dec. 61

2 - JUN 22
Copy 1962

۴۰

د پښتو ټولنې میاشتنۍ

خپرونه

۹

پرله پسې ګڼه: ۵۰۶

ښکلا او هنر

په هر ځای کښې په هر چا کښې چه ښکلاوی
د یوروپ دا فریقې که د اسیا وی

د نظر خاوند په مینه ورته ګوری
مسلمان وی او که ګبر که تر ساوی

دلته فرق د امریکی او دروس نشته
ښکلی ښه دی که د هرسرد دنیا وی

ذوق او مینه خدای از ا ده پیدا کړې
شاعران له قید او شرطه بې پروا وی

پتنګان ور سره عشق لری هر ګوره
د ډیوې ځای که مسجد که کلیساوی

ښه آهنګ چه په هر ساز کښې وی موزون دی
که رباب وی که شپیلی وی که دارباو ی

نندارو او تماشو ته به ور ځمه
د هرچا په ساز چه ښکلی په ګډا وی

چه په هره ژبه وی ښه شعر ښه دی
که زما وی که د تا که د بل چا وی

ښه تا بلو د هنر من خو ښوی هر څوك
که د چین وی که د هند که د برما وی

په الفاظو کښې وی ډیر اختلاف نه
یو له بله متفق اهل معنا وی

د دو ستی کور کښې د توږ او سپین فرق نشته
په هرچا کښې چه وی مینه خوږ زماو ی

په سپین مخ چه تورې زلفې را خورې شی
دنیا یست د ډیوې لا ښه تجلا وی

تور له سپین سره ښه ښکاری سپین له توره
څه به ښه وی چه یو بل سره پخلاو ی

د هنر، صنعت او حسن په عالم کښې
هر یو ګل چه په هر رنګ کښې وی زیباوی

ښکلی مخ له هرې خوا چه راښکاره شی
د «الفت» ستر ګی لید لی لا پخوا وی

کابل

لینده (۱۳٤۰ش) کال د (۱۳۸۱ق) کال د ۱۹٦۱ کال نومبر او دسمبر

ژبنی، ادبی، تاریخی او اجتماعی

امتیاز: د پښتو ټولنې

د پښتو ټولنې مشر: گل پاچا الفت

مسؤول مدیر: محمد صدیق روهی

مهتمم: محمد مومن پټوال

په دې ګڼه کښې

شمېر	لیک	لیکوال	مخ
۱	نوې ژبپوهنه :	تږی	۱
۲	دژبې قواعد او ګرامر:	حداد	۵
۳	د پښتو ادبی نظم ...	دوریا نکوف	۸
٤	په پښتو او خوارزم کښې...	ولس یار	۳۱
٥	پښتو تصفیه غواړی :	خادم	۱۷
٦	تشریحی ژبپوهنه (انتقاد)	ترنکوال	۲۳
۷	دښاغلی الفت وینا:	الفت	۲۸
۸	تعادل :	سیاړه	۳۰
۹	اشنا (شعر)	ژواك	٤۰
۱۰	پردی (کیسه):	خوشحال	٤۱
۱۱	دوه بنې (کیسه)	هیر	٥۲
۲۱	په اوړتیاپسې (شعر)	ریدی	٦۰

داشتراك بیه

«پښتو افغانی»

په کابل کښې	۴۰
د هیواد په نورو برخو کښې	۴٦
زده کوونکوته نیمه بیه :	
۱- کابل	۲۰
۲- اطراف	۲۳
د باندې ملکو کښې :	٥ امریکایی ډالره
دیوی کښې بیه :	۴

د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب نمبر په افغانستان بانك او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراك بیه په اداره کښې هم اخېستل کېږي

پته

شیرعلی خان واټ نوی ښار

کابل ـ افغانستان

د پښتو ټولنې د رئیس

د تېلفون نمبر ۲۰۳٥۰

د کابل مجلې د تېلفون نمبر ۲۱۲۹۱

حبیب الله تږی

نوې ژب پوهنه

او زړې خبرې

دپښتو دپاره دکره لیك او املاء فکر :

که څه هم چه ددې لړ مقالو په لومړی سر کښې مادا ویلی وو چه د مخه د نویو افکارو درامنځ ته کولو او د نوې ژب پوهنې پر اساس دژبې او ژبنیو مسائلو دکره څېړلو څخه باید هغه سهوې څرګندې او له منځه لرې شی چه دژبې دڅېړنې په برخه کښې له ډېرې پخوا څخه موجودې او ما دلته زړې خبرې بللې دی امادادی دلته د ځینو ملګرو دبیړې او ډېرې تلوسې له امله دمخه د ځینو نورو اشتباهاتو د لرې کولو څخه په دې غږېږم چه دپښتو دلیك او املا اساسی چاره کومه ده ؟

ځکه په تېرو ګڼو کښې مې ګومان کوم دلیك او ژبې دارتباط مسأله په پوره مفصل ډول سره وڅېړله او دامې څرګنده کړه چه ننني پښتو لیك او املاء کوم داسې درست علمی او منطقی اساس نه لری چه دې یې نوې ژب پوهنه دهمدې بڼې دبقاء دپاره دمنلو سرو خو ځوی . نوله دې امله دپښتو دپاره د یوه اساسی لیك دپیدا کولو خبرې بایدرامنځ ته شی

امادد ې دپاره چه خبره لږ څه پخه غوندې راشی باید لومړی ځینې هغه خبرې په لنډ ډول سره را واخلم چه په دې مساءله پورې مربوطې او په تیرو ګڼو کښې پوره څېړل شوې دی او ښاغلی لوستونکی کولای شی. دخپل سرد خلا صولو دپاره یې دکابل مجلې دسږ کال له (۳) څخه تر (۸) ګڼې پورې ولولی.

(۱) د لیك یا املاء بدلون هیڅکله هم دژبې یالهجې دبدلون معنا نه لری .

(۲) ـ لیك او ملیت یانژادهیڅ کوم مستقیم ارتباط نه سره لری .

(۳) ـ دلیك او ملی یامذهبی مقدساتو ترمنځ

هیڅ ډول مستقیم ارتباط هم نه لیدل کیږي .
دادی اوس نو د پورته خبرو د بیا تذ کر نه
ورو سته په مطلب پیل کوم. او خپله خبره دلیك
یعني د املاء داصل څخه شروع کوم .

په تیر وګڼو کښې مادې خبرې ته هسې
اشاره کړې وه چه د لیك هر معمول سیستم
فقط دژبې یوه نیمګړې ثبته شوې بڼه ده مګر
سره له دې هم دلیکونو ترمنځ دو مره تو پیر
موجود دی چه ځینې له ځینې نور و څخه ښه
او یا زیات اصلاح شوی دی ولې هغه ښه او اصلاح
شوی یې هم دانه شی کولای چه ژ به د ې په
پوره معنا یعني هسې چه ویل کیږ ی هغسې
ثبته کړی. له همدې امله ده چه دلیك او املا
د کره کولو او بدلون مسأ له له ډیرو لرغونو
مهالو نو څخه دتو جه وړ ګر ځید لې او
څیـړل شوې ده چه زه یې داته د تار یخـې
څیړنې له تفصیل څخه تېر یږم ا و له هغه
وخت څخه پرې غږیږم چه دغه مساءلـه د
او سنیو ژب پو هانو په خوله کښې ولو یده
او اساسی څیړ نه پرې شروع شوه. (۱)

البته را هغه وخت دی چه ژب پوها ن د
غږ پو هنې PHONETICS په ډ یره ژ وره
مطالعه الګیا شول اود نوې ژب پوهنې تاریخ
« دغږ پوهنې د ډیرې عمیقې او په ځیر سر ه
مطا لعې دوره» هم له ۱۸۷۰ څخه تر ۱۹۲۰
پورې ښیی. په دې موده کښې غږ پو ها نو
PHONETICIANS دغږ و نو دادادتشریح
اود کښل شوو علامو په واسطه دهغودښودلو
اوڅر ګند ولو په بر خه کښې ډیره زیاته علمی
ذخیره راټو له کړه چه نن هم دژب پو ها نو
د زیاتو مطالعاتو اساس ده. »

دا مطا لعه هسې سرسری او سطحی مطالعه
نه وه بلکه کاملاً علمی اودلا براتوار مطالعه
و ه چه پو ها نو د تجر بو ی غږ پـو هنې
EXPERIMENTAL PHONETICS
یا لا براتواری غږ پوهنې LABORATORY
PHONETICS په نا مه یاده کړې ده او داهم
بیا ځانته دوه څانګې لری چه یوه یې دفزیو-
لو جیکی غږ پو هنې PHYSIOLOGICAL
PHONETICS په نامه یادیږی او په دې کښې په
عنعنوی اصطلاح مخارج یادغږیز جهازداعـضاو
حـر کات آوڅر نګوالی مطالعه کو ی .

بله څانګه یې د فزیکی غږ پـو هنـې
PHYSICAL or ACOUSTIC PHONETICS

(۱)- دلیك او املاء دکره کولو ا و بد لو ن
دتاریخی څیړ نې دپاره وګوری . د همدې مقا لې
دلیکونکی مقاله: دد لیك دکره کولو او بدلون مساءله
کابل مجله کال ۳۹ .

په نامه یادیږی او په دې کښې دوییز وغږو نو څېړې مطالعه کیږی. (۲)

دهمدې ژورو علمي مطالعاتو په لړ کښې ووچه پوهان دوییزو غږونو دډېرو کو چنیو توپیرونو د ثبتولو له امله دیوې ډېرې غنی اوړیدونکې الفبا په فکر کښې شول ځکه دوی غو ښتل چه د و ییز غږ دهرې هغې جلا بڼې دپاره یوه علامه وټاکی چه تو پیریې فقط په اکستیک فونیټکس ACOUSTIC PHONETICS پورې اړه لری. یعنې دافرق په لابراتوار کښې د فزیکی آلاتو په واسطه کیږی او فقط خپله غږپوهان یې په توپیر پوهېدلای شی. مګر خپله دژبې ویونکی هم په عادی حالت کښې دغه توپیرونه نه شی احساس کولای. له همدې امله ووچه ځینو پوهانو دد غه ډول لیك جوړولو او تعمیم ته د منلو سرو نه خو ځاوه. ځکه دوی ویل چه کله که موږ دغږو نو یوازې غږیز توپیرونه ثبتو و نو په دې صورت کښې خبره دې حدته رسیږی چه لیك به فقط د غږیزو څپو یولړ داسې رسمو نه وی چه هیڅ یو به یې همد بل په څېر نه وی. اما باید وویل شی چه دافکر چه دوییز غږونو یوازې غږیز توپیرونه دې ثبت شی او یو زښته غنی لیك دې رامنځ ته شی. په هغه وخت کښې ډېر قوی ووچه دفونیم پر نسیپ په واضح ډول سره لاپېژندل شوی اومنل شوی نه و.

« اما له ۱۹۲۰ څخه را په دې خواستر ژب پوهان په دې فکر شول چه وییز غږونه یوازې هغه وخت اهمیت لری چه په ژبه کښې یوه ځانته وظیفه ترسره کړی. او دا هم هلته کولای شی چه د کلماتو په معنا کښې تغییر راولی.

دا کار په خاص ډول سره په پراګ کښې د شهزاده نیکولا زتر و بتز کوی PRINCE NICHOLAS TRUBETZKOY او دهغه دډ نې او په امریکا کښې دا ډوارډ سپیر EDWARD SAPIR او لیو نارډ بلوم فیلډ LEONARD BLOOMFIELD او نورو مترقی

(۲) «دغږ پوهنې مطالعه ترهغو پورې هم دومره لادژب پوهانو په دردنه لګیده ترڅو چه ځینې نوې ماشینونه اختراع شول ځکه دغږ دمطالعې یخوانی ماشینو نه لکه کیمو ګراف KYMOGRAPH په دې لاره کښې دومره ګټور نه وولماکله چه په دې وروستیو کلونو کښې ځینې نوې ماشینونه اختراع شول لکه داواز سپکټو ګراف SOUNDSPECTOGRAPH هلته نو لا بر ا توا ری غږ پوهنه ډیره زیاته دژب پوهنې په دردو لګیده ځکه دغه ماشین کولای شی چه د غږیزو څپو څر نګوالی هسې ثبت کړی لکه به ګرېدا کښې چه واقع کیږی دغه ډول هم دغه ماشین کولای شی چه خپله دغږ شدت تکرر اونور خو ا ص را ته تجزیه او تحلیل کړی له همدې امله ژب پوها ن په ژب پوهنه کښې ددې پیړۍ په دوهمه نیما یې کښې ډېر ستر انکشاف دهمدې ماشین اختراع بولی.»

ژب پوهانو په ډېر وزیاتو کوښښونو ترسره شو .

په دې ترتیب ژب پوهان دې ته راغلل چه موږ باید یوازې په دې پسې نه شو چه دې هسې وییږ غږونه تشخیص اود کښل شوونښو په واسطه دې یې ترسیم کړو. بلکه زموږ دا کار باید دوییزو غږونو هغو عاملو واحدونو ته متوجه وی چه دمعنا له نظره اهمیت لری یعنې په معنا کښې تغییر راولی .

همدا عامل او مهم دغږ واحدونه دی چه ژب پوهان یې فونیم PHONEME بولی اوددې واحدونو یوازې یو عامل غږ د ALLOPHONE په نامه یادوی » .

دوییزو غږونو د تحلیل او تجزیې داوروستی ګام چه له اره په هم هغې غږ پوهنې بنادی پوهانو دعملی غږپوهنې PRACTICAL PHONETICS یا فونولوجی PHONOLOGY یا په نوې اصطلاح PHONEMICS یعنې فونیم پوهنې په نامه یاده کړه اودهغې علمی عصری اومنطقی الفبا بنسټ چه پوهانو دفونتکس الفبا په نامه یاده کړې ده همدا وروستی تحلیل دی. ځکه په دې الفبا یالیك کښې د اپرنسیپ دی چه باید هرفونیم د یوې ځانته کښل شوې علامې په واسطه وښودل شی چه په اوسنی اصطلاح دغه نښه ګرافیم GRAPHEME بلل کیږی.

کومی الفبا وې چه په دې اساس په غربی نړۍ کښې دپوهانو له خوا رامنځ ته شوې هغه ډېرې زیاتې دی اوزه یې دلته له یادولو څخه تېرېږم. اما کومه یوه له دې الفبا و و څخه چه دپوهانو یوې ستری ډلې را منځ ته کړې اوډېره زیاته تعمیم شوې ده هغه بین المللی فونتکی الفباده چه دیوه بین المللی انجمن له خوا په ۱۹۱۲ کښې ترتیب سوې ده اوهلته هم اساسی اصل فقط دادی چه دنړۍ د ټولو ژبو دهر فونیم دپاره یو ګرافیم ومنی. اماله بده مرغه چه نه یوازې زموږ ننی الفبا بلکه دنړۍ ډېرې ز یاتې نورې الفباو ې هم له دې اصل سره موافقت نه لری چه دې هر فونیم د یوه ځانته ګرافیم په واسطه پکښې وښودل شی .

«مثلاً په انګلیسی عنعنوی املا کښې موږ ګورو چه د SUN - لمر - او SON - زوی کلمات جوړدی له عین فونیمونو څخه - خو لیکل کیږی په بیلو بیلو بڼو . مګر LEAD -اسم- او LEAD - فعل- دفونیمونو له نظره یوله بله سره جلا دی خو لیکل کیږی یوډول. دغه ډول SO,SEW,THOUGH,BEAU·HOE OH,OWE واړه مختوم دی په عین فونیم خو لیکل کیږی په بیلو بیلو بڼو .مګر د HICCOUGH BOUGH,TROUGH,COUGH, TOUGH

«پاتی په ۳۷ مخ کښې»

یوه بله خبره: د قدرت الله «حداد»

څېړنه او لیکنه

د ژبې قواعد ګرامر

ار نست همنګوي (۱۸۹۸)-(۱۹٦۱) د امریکا نامتو رومان لیکونکی په ۱۹٥٤ کال کښې د نوبل جایزه اخیستې ده دې په خپل یو مشهور رومان کښې چه (په یوه بل هیواد کښې) (INEINEMANDEREN) نومیږی لیکی: «هغه زما د ایټالوی غږ ید لو ستا ینه وکړه او مونږ په کراره خوندوره مرکه کوله یوه ورځ مې هغه ته وویل: چه ایټالوی دومره ساده ژبه ده چه نشم کولی ډیره پا ملرنه ورته وکړم هر څه چه وغواړم هغه ویلی شم او هره خبره آسانه ده.

هغه وویل: مګر ولی ژر د هغه ګرامر هم نه زده کوې!

ور سته تر هغې د ژبې دود (ګرامر) په زده کولو بوخت شوم.

لږ ور سته ایټالوی دومره ګرانه ژبه شوه چه ما به څو لو مړی د هغه دود (ګرامر) په ما غزو کی مرتب نه کړله خبرو کولو به ډاریدم.»

ګرامر د ژبې زده کړې او آسانتیا له پاره دی او هم دا عقیده شته چه دسم او صحیح لیکلو او غږ پدلو لپاره ګرامر یو ضروری ټوک دی بنایی داخبرې سمې وی مګر په خبرو کښې هرومرو نورې خبرې شته چه یې هرمهال مخه خلاصه ده.

زه خپلې مقالې کښې د پښتو پر ګرامر کرې نه ګړیزم څکه پښتو یو ځانګړی او بیل ګرامر لری چه څه موده څېړنه او کار کول غواړی او ژر تر ژره باید دغه کار وشی.

کوم ګرامرونه چه د انګلیسی او عربی پر اساس ترتیب شوی پښتو په دغو قالبو کښې پوره برابره نه ده راغلی او ځان یې د یوه ځانته قالب خواته را ایستلی دی.

د دې مقالې د بحث موضوع دا ده چه د ګرامر زده کول د چا له پاره او چرته په کار دی! په ښوونځیو کښې باید ګرامر ولوستل شی او که څنګه! خپله د ژبې ګړیدونکی ګرامر زده کړی او که نه!

جان د یوی (۱۸٥۹-۱۹٥۲) د راتلونکو ښوونځیو په کتاب کښې داسی لیکی: «د ژبې

دو د (ګرامر) ښوونکی یو لړوچ او نامربوط قواعدزده کونکوته‌ور زده کوی چه‌ښایی‌ډیر لږو کولای شی‌دجملی واقعی مفهوم تجزیه اوترکیب زده کونکوته وروښیی‌او که‌چیری ګرامر په یوه زړه پوري صورت دنورو کارو په ترڅ کښی‌وښودل شی‌ساده‌اوموثربه‌وی

مترقي ښوونځی نه غواړی چه پرته له ادبیاتو د ژبی نور مربوط درسونه بیل اوجلا تدریس کړی.غواړی چه‌ګرامر د کوچنیانو په لو بو او عادی کارو کښی ځای کړی د ګرامر زده کړه کوم‌تاکلی‌وخت‌نه‌لری.»

کتاب لیکی د ګرامر ساعتونه د امریکا ډیرو هیواد وله درسی پروګرامو څخه‌ایستل شوی.

د مجرد و او بی معنی کلماتو تکرار ول څوك د ژبي په دودنه شی پوه کولی یوه زده کونکی‌پنځوس واري د ماضی نقلی فعل (زه تللی‌یم) لیکلی‌وو اوشل و اري یې ووایه بیا یې هم په آزمو یښه کښی لیکلی‌و (زه تلونکی‌یم).

په نوی ښوونه او روزنه کښی کله چه زده کونکی د خپلو پارتو را پور لیکی او یا خپل دیوې ورځې‌واقعات‌بیانوی‌نو ښوونکی د هغوی جملی له ګرامری نظره سموی.

لږوروسته‌زده کونکی‌دلازمی‌فعل‌اومتعدی‌فعل تو پیر میندلای شی ځکه زده کوونکی عملا د هغه زده کولوته‌اړتیاپیدا کوی اولومړی برخه یې په‌اساسی کارو کښی‌شمیرل کیږی.

په مترقی ښو ونځیو کښی ځینی موقته خپرو نې کیږی چه زده کونکی‌خپلې‌لیکنې هغې ته ور کوی څرنګه چه دغه‌لیکنه‌ډیرو خلکو له نظره تیریږی نو دوی په خپل کار کښی دومره پاملرنه کوی‌چه ګرامر، ټکی اینبودل او فقره بندی ټول پخپله‌زده کوی او په خورا نیازمندانه ډول له‌خپلو ښوونکو څخه مرسته‌غواړی.په تیره بیا په دغو مترقی ښوونځیو کښی وړې چاپخانې موجودې وې چه‌زده کوونکی‌د توروټولولو (حروف‌چینی) کار هم په خپله کوی زده کونکی په دغه صورت کښی خپل کارته دومره پاملرنه نه کوی چه په وروسته پاتی هیوا دو کښی د از مو ینې په وخت کښی هم هغو مره دقت نه کیږی.

د ګرامردزده کولو له پاره داسې لو بې جوړې شوی چه زده کونکی‌پرته‌له‌دې چه وپوهیږی‌په‌ګرامری‌قواعدوپوهول کیږی.

داسې چه دیوه زده کونکی‌پرشایوه جمله ولیکی بیانورزده کوونکی‌هغې جملې‌ته ورته

نوري جملی وايي اوله هغه څخه غواړي چه هغه جمله پيدا کړي چه دده پرشاليکل شوی. مګر دا چه اساسي ټګ ټکی معلوم نه وی اوسړی يو لړ بی مفهومه قواعد زده کوی خوراګران کاردی.

ګرامر هغو کسانو له پاره پکاردی چه پرته له کتابو دژبی زده کولو له پاره بله وسيله نه لری. نو دی دې ته اړوی چه دنورو کتابو په ترڅ کښې دګرامر کتابونه هم وګوری.

خپله دژبی ګړ يدونکی څرنګه چه ژبه سمه زده کوی اوسمه يې وايي دګرامر زده کولو ته کومه اړتيا نه لری.

مونږ محيطی مثالونه هم لرو لکه چه په ښوونځيو کښې عربی ګرامر لوستل کيږی زده کونکی يې هغه برخه هم زده کوی چه په فارسی کښې قطعاً نه تطبيقيږی اوعربی هم نه لولی. اودپښتنو کوچنيان هيڅکله نه وايی (پلارمی راغله) اوداړول ډېرې خبرې نورې شته چه بحث يی خبره او ږ د وی.

مرګ

که مرګ په دنيا کښې نه وای، هيچا به د ژوندانه درانه بار ته غاړه نه وای ايښی همدغه دمرګ ويره ده چه مونږ ژوند کوو او ددغه ډار په وجه ترزړښته پورې د ژوندانه پيټی په اوږو وړو.

«مترلينګ»

ښاغلی دوریانکوف په شوروی اتحاد کښې د پښتو

څانګې مشراود پښتو ټولنې افتخاری غړی

د پښتو ادبی نظم او فولکلور

په هغو کتابونو او مقالو کښی چه نه یواځې په افغانستان کښې بلکه په نورو هیوادو کښې چاپ شوی دی او د پښتو ادبیاتو، تاریخ او یاد نثر او نظم د راز راز مسئلو څیړنې او تحقیقات پکښی ترلاس لاندې نیول شوی دی مونږ ډیر ځلی لوستلای شو چه د افغانانو د ادبیاتو د ترقی د پاره فولکلور ډیر ستر اهمیت لری د پښتو د اشعارو یو مشهور پوهاند ښاغلی ډار مسټیټر چه د ۱۸ عیسوی پیړۍ په دو همه نیمایی کښې به یې د افغانی شاعرۍ په ترقی باندې بحث کاوه دې ته یې مخصوصه توجه وګرزوله چه د پښتنو مشهورې ملی قصې او افسانې او د پښتون ولس د فولکلور سترې نمونې لکه د ادم او د رخانی او یا د فتح خان قندهاری او نورې قصې دی هم په ادبی نظم را نقل شی.

نوموړی پوهاند په دې وخت کښې دا هم ولیکل چه د پښتنو حقیقی ادبیات چه خلك یوازې په هغه ښه پوهیږی علاقه ورسره لری او ډیر قدر یې کوی او هغه پخپله د خلکو ژوند او مفکورې په حقیقی ډول منعکسې کوی او او معرفی کوی یې.

هغه اولسی او ملی، شفاهی او تقریری ادبیات او آثار دی.

د فولکور ادبی اثارو په پښتو کښې تل ډیر شهرت در لود.

په افغانستان کښې د پښتو د ادبیاتو په ډګر کښې یوه څیړونکی او پوهاند ښاغلی امین الله زمریالی نژدې دوه ویشت کاله د مخه په یوه خپله مقاله کښې چه د «کابل په کالنۍ» کښې خپره شوې لیکی: کوم وخت چه ۱٦ کاله پخوا ما زمونږ د هیواد په مشرقی کښې په اردو کښې خدمت کاوه نوله خلکو څخه مې نه یوازې په سلها و بلکه په زرها وداسې تاریخی قصې او شفاهی ادبی اثار ارویدلی دی.

ښاغلی محمد ګل نوری چه د فولکور د څیړنې په باب کښې ډیرې مقالې لیکلی دی هغه هم د پښتنو په ژوند کښې د فولکور ډیر لوی اهمیت ښودلی دی د پښتو لوی شاعران او پوهان لکه

ښاغلی الفت، ښاغلی بینوا، ښاغلی ربښتین او نورو هم پەخپلو کتابونو او مقالو کښې د پښتو دتقریری اثارو د رول او اهمیت پرلەپسې ډیر قدر کوی ستر شوروی پوهاند اسلانوف چه هرڅوك یې مشهور افغانستان پیژند ونکی او اواستادبولی پەخپل لوی علمی اثر کښې چه «افغانی فولکور» نومیږی دپښتنو فولکور خزانه، ثروت اوبډا ینه همدغه رنګه لوی کلتوری اوایستیتیکی رول یې او د پښتنو په ژوند کښې ددودونو معنی او اهمیت څر ګند کړ. دوه دری کاله دمخه دانګلستان یوپوهاند ماکانزی هم په خپله مقاله کښې چه پښتو شعرو نه نو میږی پەدې باره کښې خپلې نظریې خپری کړې.

خوبیا هم لاتراوسه پورې دفولکور او اوسنی ادبی نظم ترمنځ پەروا بطوا و تعلقاتو باندې کتنې او څیړنې یوازې پەعمومی ډول وشوې اولازمه مخصوصه اودقیقه توجه دې ته نه وه ګرزولی شوی. کەمونږ اوس دپښتو نوی اشعار وګورو نو وبه وینوچه په اوسنی نظر کښې ځانته یوښکاره خصوصیت اوتمایل په ښه ډول څر ګندیږی. هغه دا چه پەا کثرو اشعارو کښې الوسی توب یعنی دپښتنو درو حی ژوند اوه خلکو دمادی اومعنوی موجودیت انعکاس اودهغو داجتماعی نهضتو جریان ښکاریږی. دادبیاتو اوفولکور روابط او تعلقات او ګډه اغیزه یې اهمدې نقطه نظر څخه باید وڅیړلهشی.

په دواړو ادبی اوتقریری نظمی اثارو کښې پەملی سندرو اوادبی غزلو کښې لاتر اوسه پورې یومطلب او موضوع لومړی مقام لری چه عشق اومحبت اومینه دەچه په ډیرو اشعارو کښې ځانته ازانګه پیدا کوی اوځینی کسان په هرځای کښې چه وی دنظم یواز نی مطلب یې بولی.

په دواړو نظمو کښې دامطابقت طبیعی قانونی اوښکاره خبره دەچه نه دلایل غواړی اونه ډیر مثالونه! له یوې خوا څخه دخپلې معشوقې دښکلیتوب صفت ستاینه او وجدا وپه لیلی پسی تلل دی اوله بلې خواد بې الفته ژونداو دبینوا محبت په باب ژړااواو ښکی! اما پەورستیو وختو کښې د پخوا په نسبت په عشقی اشعارواو غزلونو کښې دخپلې مېنې سره مینه اود خپل هیواد دغرونو، رغو نو د اسمان او ځمکې اوپه تیره بیادزړه وراوزیارا یستونکی پښتون قام قدر او صفت هم ډیر بیانیږی. پخوا دګل اوبلبل خوږی سندری اودباغ بن شیهار دشعرونو اساس او بناوه اوس دې عنعناتو خپل بل مقصد پیدا کړ مثلا ښاغلی الفت وایی:

باغ وبن یې بې بلبل بې عند لیبه
د نځوران یې بې دوا او بې طبیبه

یا باغلی بینوا په خپل شعر کښې داسی لیکی:

بن خالی له زوز او شوره اواز نشته د بلبلو
ځالې ورانې پاڼې ژیړې سرخی والوته له ګلو

مګر په دواړو ملی سندرو او ادبی نظم کښې په تیره بیاد خپلو اکی دپاره دا ستعمار او امپریالیزم پر خلاف دپښتو د ملی ازادو نکی مبارزې، نغمی او د قهرمانانو د میړانې او زړورتیا په باره کښې نه شعرونه پیدا کیږی او د فولکور او ادب دا نژ د یوالی او یو والی په اینده کښې داوسنی نظم دپرمخ تګ او انکشاف دپاره کلك اساس بنا کوی یوه لنډی وایی:

د ازادی سندرې وایم
چه زلمی ملا وتړی جنګ ته تیار شینه
د کاکړو غاړې ځینې داسې کرښې لری چه:
شین غر و د نیکانو
اوس بنګلی کی انګریزانو

په اکثرو اوسنیو ادبی شعرونو کښې د خلکو د مبارزې او د جګړو ازانګو د ځان دپاره انعکاسات موندلی دی او په رازراز او زانو کښې بیانیږی د وطن د مځکې بنایسته منظرې او د مېنې د غرونو د سرو نو او دشنو لمنو او د ښتونو او هم د وچو بیا بانو لیدنه او کتنه د خپل قام او ملت د تقدیر او تاریخ په باب دافکارو او خیالونو سره رابطه لری نو ځکه داټول موضوعات پرله پسې دیوه شعر په مصرعو کښې تقلیږی مثلاً په دې ترتیب باندې چه باغلی بینوا وایی:

هندو کش په سر لمبی دی ...
که چنګیز د عصر توره
چه له تیکی را ښکاره ده . . .
د سکندر د وخت شهید دی
په حسرت ګوری بګرام ته ...
ښه رنګینه افسانه ده
موږ ته یاده جانبازی کړی
دنیکونو سربازی کړی
یه! شفق د کوهستان دی
راچا پیره پر اسمان دی

پښتون اولس تل د خپل ژوند په باب سندرې وایې او هغه خوشحالی او غم ښادی او پریشانی نیك مرغی او بد مرغی او دهغه د ژوند ډیر مصیبتو نه په کښې ارویدل کیږی. آیا د پښتو دسترو شاعرانو په نظم کښې داډول سندرې نشته؟

په دې کښې شك نشته چه ډیرې دی چه وایی:

زه پر خپل وطن غریب یم
خوار وطن تر ما غریب دی

زما په عقیده دپښتوا دبی نظم او فولکور سره نژ دې شوی دی او ثبوت او دلیل یی دادی چه کوم شاعرانه اصطلاحات او تمثیلی او تصویری وسایل او نظمی سمبلو نه چه شاعرانه ذوق یی خو ښوی په ادبی نظم او په فولکور کښې یوشی او مشترك استعمال لری. د مثال په ډول څو کر ښې کاږ و.

دبهار با د ونو را و ړ ل
سحر باغ ته پیغا مو نه ؛
ونو وا چو ل په غا ړ ه
د ګلا نو ا میلو نـــه
له مستی په نڅا را غلـې
وړې څانګې لوی ښاخونه

چه دا کرښې هم ادبی نظم او هم یوه ملی سندره چه فولکوری رنګ لری ګڼل کیدای شی. دفولکلور نور عنا صر په اد بی نظم کښې ډیر استعمالیږی . دمثال په دودمرادف لغات څنګ په څنګ راوړل لکه لوی او ستر یا خواری او غریبی یا بخت او نیك مرغی او داسی نور.

بل د تصغیر او د تحبیب استعمال په نظم کښې لکه زړه او زړګی . بل دا چه د خبر و محلی او محاوروی شکل استعمالول . مثلا د ما و و یل پر ځا ی ماوو ې . بل لنډې او بسیطی جملې چه په فولکوری او ادبی نظم کښې رواج لری او په همدې ډول دامر او خطا ب جملې مثلاً یو شاعر و ایې :

ځان از اد کړه ځان آزاد کړه
کړه ټوك ټوك زاړه دا مونه

په ملی او فولکوری اشعارو کښې د ژوندانه امیدواری ډیره ده او د محیط په نسبت استیتیکی رنګ غالب دی. او د خپل قوم د نیك مرغی په نامه دلویو کارنامود اجرا کولو رومانتیکی بلنې او خطابو نه ور کی موجود دی. دا ټول خصوصیا ت له فولکور نه معاصر ادبی نظم ته ور داخل شوی دی مثلاً :

خپل تیاره جهان رڼا کړه
یو ځل وسوزه بریښنا شه
استعما ر ته پنجه ور کړه
د تا زه فکر په خـوا شه

دا چه ټول پښتانه شعراله فولکوری موادو څخه استفاده کوی د تعجب وړ خبره نه د ه ځکه چه دوی ټول فولکوری موادراغونډول او چاپول خپله وجدانی وظیفه ګڼی. او داورته امکان پیدا کوی چه په داسې اشعارو کې چه فولکور او ادبی نظم ور سره ګډ شو ی و ی د پښتنو ملی روحیه او سبك خوندی کړی او ویې ساتی. او شعرو نه یې ملت ته خوازه رنګین او مأ نوسه تر نظر ورشی. مثلاً :

مینه داورشوه ګرا نه نګاره
ګرا نه نګا ره
ستر ګـی څلو ر شـو ي
لـه انتظـا ر ه
را شـه ا ختـر دی
مسا فر یـا ر ه

په پای کښې با ید ووایوچه فولکورداولس داستعداداودپیړیو پیړیودزیاراوعقل محصول اونتیجه ده . کو م اشعار چه له فولکور سره رابطه لری په هغو کښې دقوم دشاعرانه تجربو لهخزانې څخه استفاده کیږی چه ملی احساسات یادخلکوسندرې اونغمې، خیالونه او امیدو نه پکښې انعکاسات پیدا کوی. نوی اشعار ځانته نوی رنګ پیدا کوی، نو برسیره پر دې نوی خاصیت ډیـرې بنـیګنې مزیـت او فضیلت لری چه نوم یې اولسی توب دی .

دپښتنواد بیاتوپه اثارو کښې لیکل کیږی چه پښتو اشعار په دوه ډوله د ی :

ملی اشعار او ادبی شعرونه . داچه مونږ اوسنی اشعارپه دې دوه ډوله ویشلای شواو که ویشلای یې نه شو ځانته بیله مقاله او بحث غواړی .

.....

پا ر لمان

پارلمان ددولت زړه دی اوحکومت د دماغ مثال لری چه په ټولو غړویې فرمان چلیږی . که دماغ له کاره ولویږی سړی ژوند کولی شی لکه لیونیان او احمقان چه ژوندی دی مګر که زړه ساروڼکړی شی ژوند ختمیږی .

«روسو»

لیکونکی: ولسیار

په پښتو او خوارزمی کې د «خ» اشتراك

نژدې یو کال دمخه ؤچه ماته د خوشحال خان دد ستارنا مې یوه چاپی نسخه په ګوتو راغله . هلته د نوموړی کتاب په مقدمه کښې ښاغلی عبدالشکور ددغه کتاب خپروونکی او محشی لیکلی ووچه: «د دستارنامې د اموجوده نسخه په ۱۱۱۹ کې په میاشت جماد ی الثانی کښې د خوشحال خان د نمسی خان محمد افضل خټك په وینا عبدالحلیم نومی کاتب په نستعلیق رسم لیکلی ده چه حرفونه یې د پښتو دی ولې داخلور مخصوص ټکی - خ، ځ، ښ، ز پکښې نشته دا معلومیږي چه دا حروف د دغه وخت نه وروسته راغلی دی» .

کله چه ما د پښتو دلیك او املاء د تحول په باره کې یوه مقاله د ادب مجلې ته ولیکله او د (۷) کال په لومړی ګڼه کې خپره شوه هلته ما د پورته خبرې په باره کې لیکلی وو:

«پورته خبره پر ته د سلیمان ماکو د تذکرې دلیدلو د لرغونی پښتانه او تاریخ سوری د میندلو د شیخ ملی، روښان پیر او اخون درویزه د کلمی آثارو د مطالعه کولو څخه د معزالله د دیوان پښتو ګرافیمونه (توری) هم ماتولای اوسړی ته د اقناعت ور کولای شی چه د اخلور توری خ، ځ، ښ، ز د خوشحال خان د دستار نامې د دغې پیدا شوې نسخې د لیکلو د تاریخ نه وروسته نه دی جوړ شوی ځکه معزالله چه یې خپل دیوان له دستارنامې نه فقط څو کاله وروسته لیکلی دی د دومره مبتکر شخصیت نه ښکاری چه دې یې دغه توری په خپله وضع کړی وی) (۱).

اما څرنګه چه دلیك اوژبې په برخه کې زما څیړنې دوام لاره په پای کې د اخبره راته ثابته شوه چه :

(۱) د پښتو د ځینو هغو ګرا فیمو نو تاریخ چه په پارسو کښې نشته د پښتو دډیر لرغونی لیکل شوی سند یعنی سلیمان ماکو د تذکرې (۶۱۲ھ) څخه هم ډیر پخوا ځی .

(۲) د اچه ځینی پښتو توری لکه (خ) برسیره پر پښتو پر ځینو نورو لرغونو آریایی ژبو کې هم استعمال شوی دی لکه په خوارزمی کې چه

(۱) کله چه ما د امقاله لیکله هغه وخت د روښان پیر د آثارو کومه زړه کلمی نسخه ماته د مطالعې د پاره نه وه میسره اما اوس له ښه مرغه د روښان پیر د ډیر مهم اثر خیر البیان زړه کلمی نسخه هم د ښاغلی بینوا په برکت کابل ته را رسیدلی ده .

دادی دلته دمطلب دپوره روښانولو دپاره په لږ څه تفصیل سره پرې غږیږم .

خوارزم یا خیوه خو یوه سیمه ده چه د آمودسیند د مجرا په لړه برخه کې پرته ده او له لرغونو مهالونو نه را په دې خوا یې دمنځنی ایشیا پرتمدن باندې اغیزه لرله .

ځینی پوهان لکه مارکوات Marquort آن لاداوایی چه د آریائیانو اصلی ټا ټوبی یعنی ایر یانم وی جو Air anemwaejo همدغه خوارزم دی . دد ې ځمکی نوم په اوستا کې خوارزم Xvarizem او په هخا منشی لیکنو کې چه پر زړه پاړسو کې Uvarazmish را غلی دی .

خوارزمی ژبه هم هغه ژبه ده چه په همدې لرغونی خوارزم کې ویل کیدله . او دبیهقی د تاریخ د هغه عبارت څخه چه یی د یعقوب جندی په باره کې ویلی دی څرګندیږی چه خوارزمی تر پنځمې هجری پیړی پورې هم ویل کیدله .

اماوروسته دپاړسو اوترکی په مقابل کې دانسې له منځه ولاړه چه تردې وروستیو وختو پورې ان دځیړونکو له نظره هم لویدلی وه . اما په دې اواخرو کې دهغو پلټنو په اثر وپیژندل شوه چه په خوارزم کې و شول .

خوارزمی ژبه هم دسغدی، خوتنی او اوستی (۱) ژبی په څیر دپښتو سره ډیر زیات نژدې اړیکی لری.

اماویل کیږی چه خوارزمی تر نورو ژبو څخه دسغدی سره ډیر زیات نژدیوالی لری . مثلا داعدادو دلاندې مقایسې څخه تاسې ددې خبرې اټکل په پوره ډول سره کولی شئ .

پښتو	خوارزمی	سغدی
یو	ایو	ایو
دوه	اذو (۲)	اذو
درې	شی	شی
څلور	څفار (۳)	چتوار
پنځه	پنځه	پنج
شپږ	اوخ	خوشو
اوه	افد	اود
اته	اشت	اشت
نه	شاذ	نو
لس	دس	دس

(۱) اوستی ژبه دقفقاز دیولې خلکو ژبه ده چه دساکانو له ژبی څخه سرچینه اخلی اودساکانو ژبه هم دپښتو سره ډیر زیات نژدې اړیکی لری .

(۲) کوم فونیم چه په خوارزمی ژبه کې په (ذ) ښودل شوی دی پرته دهغه عربی فونیم څخه دې چه ګرافیم یی (ذ) دی .

(۳) کوم فونیم چه د «ف» په واسطه ښودل شوی دی هغه دفارسی «ف» او «و» ترمنځه یو فونیم دې چه په انګلیسی کی په (V) ښودل کیږی او ما دطباعتی مشکلاتو له امله دګرافیم اصلی بڼه دلته ونه لیکله .

اما خوارزمی لیك په دوو دوروویشل کیږی یوه لرغونی دوره او بله نوې دوره . کوم لیك چه د خوارزم دلرغونو پاچایانو په سکو کې استعمال شوی دی هغه هم لکه پهلوی اوسغدی اوځینی نورهغه لیکونه چه په منځنی او غربی اسیا کې تراسلام نه پخوالیکنې پرې کیدلی له آرامی لیك څخه راوتلی دی .

مګر دالفبا پهلوستلو یې تراوسه پورې څوك پوره نه دی بریالی شوی. اما کوم لیك چه له اسلام نه راوروسته خوارزمی آثار پرې لیکل شوی ی هغه هم عربی لیك دی چه دپښتو په څیر خوارزمیانو. خپلو احتیاجاتو سره سم څه زیاتوالی او تصرف پکښې راوستی دی مثلاً څرنګه چه تاسو مخه داعدادو په مثالونو کې ولیدل دوې دوه داسې ګرافیمونه استعمال کړی دی چه په عربي، پارسو کې نه لیدل کیږی. لکه (څ) او (ف) چه له دې دوو ګرافیمونو څخه لومړی یعنی د (څ) ګرافیم عیناً همداننی پښتو ګرافیم دی چه فونیم یې هم تراوسه کټ مټ په هاخپل لرغونی تلفظ پاتې دی .

دغه ډول همدافونیم په «اوستی» ژبه کې چه ما دمخه په (۲) حاشیه کې په لنډ ډول اشاره ورته وکړه ـ موجود اوشته دی .

اوس نوله دې ځایه سړی ویلای شی چه د پښتو «څ» ګرافیم څه نوی او یا خاص په پښتو کې مستعمل ګرافیم نه دی. بلکه دا یو ډیر لرغونی ګرافیم دی چه تا ریخ یې د خوارزمی کښل شوو اسنادوله مخی لومړنیو اسلامی پیړیو ته رسیږی اودنو موړو آثارواو پښتو لیکنوله مقایسې څخه څرګندیږی چه داګرافیم په یوه لویه ساحه او جلاجلا ژبو کې معمول دی اما د (ف) دګرافیم په برخه کې څرنګه چه دمخه په (٤) حاشیه کې اشاره ورته وشوه پوهان په دې عقیده دی چه داګرافیم دیوه وایسډ کانسونټ Voiced Consonqnt دپاره وضع شوی اود انګلیسی د(V)سره برابر دی . په همدې ترتیب دخوارزمی ژبې په لیکلو کې دا هم دود ؤ چه د ځینو هغو ګرافیمونو لاندې چه جوړه یې ټکی لری او خپلهیې نه لری لکه (د، ر، س،ط، ص) ټکی کښیښودل کیدل اووایې داله دې امله چه له ټکو لرونکو ګرافیمونو سره یې فرق و شی .

دادودد بیرونی په ځینو آثارو کی هم لیدل کیږی اوداځکه چه دی هم دخوارزم دې .

کله کله اود خوارزمی په ځینو آثارو کې

زوراوزېر هم د لوستلوداسانتیادپاره استعمال شوی دی لکه په هغو فقهی جملو کې چه په (قنية المنية) کې راغلی دی . اماپه نور و برخو کې زو اوزېر هم نشته. نوله دې امله به سړی ویلای شی چه دلیکل شوو اسنادوله مخې د خوارزمی ژبی په لنډو واولونو باندې ځان پوهول څه اسان کار نه دی . اما داوږ دوواولونودښودلودپاره (ا،و،ی) استعمال شوی دی اماداهم څه عام دود نه دی .

داسې چه کله کله همدا ګرافیمو نه لنډ واولونه یاپه اصطلاح زور زیراوپیښ ښیی لکه چه په مقدمة الادب کې چه (جملك) او «جوملك» دیوې واحدې کلمی دوه بیل بیل لیکل شوی شکلو نه دی.

بر سیره پردې بایدوویل شی چه د خوارزمی ژبې په لیکل شوواسنادو کې هم د خوشحال خان ددستار نامې په څیرد «ك» او «ګ» د ګرافیمونوتوپیریوله بل سره نه کیږ ی .

په پای کې باید وویل شی چه د پښتو او خوارزمی ژبې ترمنځه هم اړیکی ډیر زیات اوټینګ دی. اماڅرنګه چه دلته زما اصل مطلب دخوارزمی لیك په یوه خاصه بر خه غزیدل اودنوموړی ژبې په لیك کې د(څ) دګرافیم ښودل وو .

نوله دې امله په خوارزمی ژ به مفصلې خبرې کول بل وخت ته پرېږدم .

خودلته یوازې دپښتواوخوارزمی ژبې ارتباط دځینو کلمو له مخې ښیم :

مثلاً :

پښتو	خوارزمی
غوږ	غوشت
یو	ایو
څلور	څقار
پنځه	پنڅه
لس	دس

هیله ده چه دپښتواوخوارزمی ژبی ارتباط به وروسته دخوارزمی ژبې دزیاتو مطالعاتو اوله پښتوسره د کره مقایسی له مخې زیات څرګند اوواضح شی .

دخوارزمی ژبې اولیك دپوره مطالعې د پاره وګورئ د دې مقالی اصلی منابع :

(۱) دتهران د ادبیاتو دپوهنځی په مجله کې دډکتور احسان یارشاطر مقاله: دخوارزمی ژبې په باره کې څو خبرې .

(۲) پر برهان قاطع دډکټور معین مقدمه د(ایرانی لهجې) تر عنوان لاندې.

(۳) د Islamika په دائرة المعارف دریم ټوك کې د W.Bartold مقاله .

(٤) Turkistandown to the Mangol Invation.byw Bartold. London P-29,38,558 etc .

لیکونکی: ق. خادم

پښتو تصفیه غواړی

-۲-

دژبې نه مقصد څه دومره پټه خبره نه ده. هر څوك پو هیږی چه له ژبې څخه مقصد دادی چه یو سړی په خپل مطلب اومد عا بل وپوهولای شی او په خپله دبل په مدعا وپو هیږی. نو چه دې مقصد ته وګورو هغه لارې چارې باید ګټورې وبولو چه دغه مقصد ورڅخه ښه ترا په لا س را تلی شی.

هره ژبه درې مرحلې یا درې ډګره ا و ساحې لرې چه دغه مقصد په کښې لږ یا ډیر تو پیر پیدا کوی (۱): دوینا ډګر: له دې څخه زمونږ مدعا هغه حا لت او زمینه ده چه دیو انسان غږ دبل غوږ ته ورسیږی او یو دبل په مراد پوه شی. لکه عامې محاورې، د کلی کور خبرې، جر ګې او جلسې، رادیو او تلویزیون او دا سې نور. (۲) دلیك ډګر د ی.

دا هغه حالت او ساحه ده چه یو بل دغږ او غوږ له لیارې څخه نه پوهیږی بلکه په اشارتو نو او دلا لتو نویې پوهوی. او مخصو صاً هغه اشارتو نه او دلا لتو نه چه خبرې کوونکی ا و خبرې اوریدونکی نه یو بل وینی او نه ئې غږ اوری. او زیاتی لاد اچه د دغو دواړو په منځ کښې زمانی او مکانی فرق هم په ډیره اندازه موجود وی.

(۳) دژبې تدریسی ډګر: دلته اولی دواړه مرحلې په نظر کښې نیول کیږی او ژبه یو دریم صورت او جدا هویت پیدا کوی.

له پور ته درې مرحلو څخه پر ته یو بل ویش او بل تقسیم هم شته چه دهغه له مخې ژبې ته باید دجدا او نورو ستر ګو له پلوه و کتل شی. داویش باید داسې تعبیر کړو او وو ایو چه: (ژبه په تنګه دائره کښې، او ژبه په یو ه لو یه احاطه کښې) که ژبې ته له دې ډډ ې و کتل شی نو بیا هم دژبې، وینا، لیك او تدریس ښایسته ډیر فرق کوی او بل شکل غوره کوی. نو دا ټولې پنځه مرحلې یا پنځه ساحې دی چه که ژبې ته ددې هرې یوې له پلوه و کتل شی ژبه ځانته حیثیت او جدا صورت غوره کوی. که لږ په څر ګند او واضح ډول و ګړیږو. نو دغه پنځه شکله به داسې تعبیر کړو: (۱) د کو ر کلی دوینا او خبرو ژبه. (۲) دلیك لوست په حا لت

کښې ژبه. (۳) دتعلیم او تدریس په حال کښې ژبه. (٤) دلیك لوست او تدریس په وړه ساحه کښې. (٥) لیك لوست او تدریس دیوې لوئې او مکملې ګړنۍ ټولنې په نظر کښې دنیولو په حال کښې. نو په اول حالت کښې یوازې محلی لهجه ښه کارور کوی او ګټوره ثابتیږی. یعنې دژبې مرام ښه پوره کوی.

په دو هم ډګر کښې چه ژبه دلیك لوست له خوا په نظر کښې ونیسو نو له اول حالت څخه باید لږه خرادې شوی، سوچه او توږ ل شوې وی. ځکه چه داطفالو ښځو، بیړ اګا نو، نالو ستو اونیم ژبو په محاوره کښې ډیر الفاظ اوریدل کیږی چه دژبې دوینا مرام پوره کوی خود لیکلو مرام نه پوره کوی. نو ځکه لیکوال ئې دقلم لاندې دراو ستلو وړ نه بولی او نه یې لیکی. دتعلیم او تدریس په حال کښې د ژ ب ې دتلفظ، لیکلو، تورو او دهغه لیك ډول او دمختلفو لهجو له خصو صیاتو او د کره وینا او کره لیك ټولو څخه څېړنه او ازموینه کیږ ی.

هو! که دالیك او تد ریس دژبې دیوې وړ ې ساحې په ملا حظه وی یو ډول بایدوی. ا و که بیا همدا کار دیوې پوره ګړنۍ، (لسانی ساحې) په ملا حظه وی نو بل ډول ښائی چه وی.

اوس به دلږ نو ر صراحت څخه هم کار واخلو: د کور، کلی، تپې، قوم او ملت ژبه کښې هرومرو فرق موجود وی نو اوس څه کول په کار دی؟

محلی ژبه باید په قوم تعمیم او خپره کړی شی او که له محلی او مختلفو لهجو او وینا ؤ څخه منځنی او مشترك حد ملی ژبه و ګڼل شی او عامه کړی شی؟ ددې سوال د جواب دپاره په دنیا کښې ډیر مثالونه شته.

مدعامې داده چه یو کار په ډیرو لارو کیدی شی خوخلك لنډه، اسانه، مفیده او بې اغزولاره لټوی. دیو قوم دملی ژبې دمیندلو او په کار اچولو دپاره ښائی چه په دنیا کښې ډیرې لیارې موجودې وی.

یعنې ممکن چه هر ملت ددې کار دپاره دزمان او مکان، دمقتضیاتو او دتاریخ جر یان په اساس بیله بیله لیار نیولی وی.

دحیات او زند ګی مظاهر او جر یانات په کلیاتو کښې کیدی شی چه تر ډیره حده د ډیرو ټولنو په منځ کښې یو شریك رول ولری خو په جزئیاتو او تطبیقی ساحه کښې ډیر داسې کیږی چه کوم کار په کومو وسائلو په امریکا کښې شوی وی په انګلستان کښې دې هغسې و نه شی.

یا همد غسې کوم کار چه په اروپا کښې

شوی وی په چین. هنداوبرما کښې هغسې ونه شی. مثلاً په عربستان کښې ملی او قومی ژبه داسې جوړه شوه چه دقرآن کریم له راتلو مخکښې عربی ژبه د قصیدو اومعلقواو بیلو بیلو قبائلو دشاعرانو په واسطه دزمانې په تیریدلو دیو تاریخی جریان په منځ کښې په ورو،ورو تصفیه کیدله اوښویه کیدله چه څوپه ژبه کښې د وحی دنزول اودقرآن درا تلو صلاحیت پیدا شو.

نو کوم وخت چه قرآن راغی او هغه ډیر لوی ادبی شهکار اوپخپله یوه ادبی معجزه وه نور نوټول ادبی اثارئې درنا لاندې و رک اوتت شول.

دقرآن ژبه، محاوره تعبیراوادادهر عربی لیکوال څه چه دنورو مسلمانانو د پاره هم په خپلو ژبو کښې یومعیار او اساس و ګڼل شو.

اوهر چا کوشش کاوه چه له دغه روڼ مثال څخه لفظاً اومعناً پیروی، تضمین او اقتباس و کړی. نوپه دغه شان دعربو مختلفې لهجې په یومتحد جریان کښې سره شریکې شوې اویوه ملی عربی ژبه منځ ته راغله چه د ټولو عربو دپاره ئې فهم اوادراك اسان و.خوبیا هم دغه ملی اومعیاری ژبه ټوله کوم خاص قوم یاقبیلې ته منسوبه نه وه بلکه دیو سند حیثیت ئې در لود چه ټولی وړې چړې اوبیلې ور ته رالویدلې وې. په دې خبره باندې د پیغمبر صلعم دا حدیث دلالت کوی چه:

«قرء القرآن علی سبعة أصرف»

قرآن په اووجر فو نولو ستل شوی دی.

یعنې په اوو قرأتو نو د قرآن لوستل روا دی.ـ دغه اوه ډوله لوستنه اوه لهجې دی. چه له دغو څخه دقرآن ژبه یا په بل عبارت دعربو ملی ژبه روغه شوې ده.

په موجوده انګریزی کښې ښائی چه د لندن دلهجې زیات اثر وی او کوم ډول انګریزی ژبه چه په امریکا کښې خپره ده کیدی شی چه په هغې باندې هم د کوم یو لوی ښار تأثیر زیات وی. لکه په موجوده اردو چه د دهلی اولکنوء د لهجو زیاته اغیزه پرته ده.

خو پښتو ژبه په ملی ساحه کښې د یو بل قسم تاریخی جریان دتأثیر لاندې لویه شوې غټه شوې او تردې ځایه را رسیدلې ده.

ددغې خبرې اجمال داسې دی چه عربی ژبه او عربی کلچر افغانستان ته د جنوب مغربی پلو څخه را ننوتی دی. په دغو څنډو دواړو کلچرونو ډیره موده سخت تصادمونه

کړی او په پای کښې عربی کلچر فاتح شوی او د افغانی کلچر ټوله دارائی ئې د سیلاب په شان وړې ده. کوم وخت چه لږ امن او سکون قایم شوی دی پښتنو زیار کښلی دی چه په عربی تو د و ا و لیك کښې د پښتو اصواتو او غږونو د پاره ځای پیدا کړی. یعنې په عربی لیك ئې ګوتې وهلی دی او په پښتو یی تطبیق کړی دی.

غالب ګومان دادی چه دا کار به غوریانو او د شنسب کورنی کړی وی که څه هم په یوروایت سره دا کار دغزنوی محمود د عصر «حسن ممیندی»ته منسوبیږی.

خو څومره چه ژوره کتنه کیږی عقل د سبکتګین په کورنی کښې ددې کار د کیدو صلاحیت نه وینی. نو په دغسې عدم صلاحیت کښی به «میوندی حسن»دا کار څنګه کړی وی؟ـ او که ئې کړی وای نو په ټوله غزنوی دوره کښې خو به چرته د پښتو کومه کرښه را څرګنده شوې وای.

زما مدعا دومره ده چه پس له اسلامه پښتو په نوی خط او نوی بڼه له غزنی څخه دغوره پوری په دغه ساحه کښی کوم کس یا څو کسو را پا څولې ده.

دا سړی تر او سه مونږ ته نه دی معلوم خو د پښتنو د لوی ټبر اولرغونی تاریخ څخه دې ده ته لمانځنه او درناوی وی. ډیر او قوی قرائن داسې دلالت کوی چه پښتو شعر او ادب تر اسلامه د مخه پوره برم او عظمت درلود. او د هغه وخت په خط به ئې لیکلی آثار هم موجود وو چه تر اسلامه وروسته په سل یو نیم سل کاله کښې ئې دغومره پاخه سو چه او کره آثار د پټې خزانې په ذریعه ترمونږه را رسیدلی دی. نو د پښتو هغه خاص غږونه چه تر اسلامه د مخه ئې د هغه وخت په خط کښې په لږو ګوتو وهلو ځای کړی شول. په دغو دلائلو د پښتو په موجوده لیك کښې د پښتو د جنوبی لهجې علایم زیات تر نظر لا ندې راځی.

اوله غور، کندهار او وزیرستان څخه تر ختهکو پورې پښتنو د پښتو لو مړنی حق په ځای کړی دی. دلرغونی پښتانه لیکوال شیخ کټه څخه بیا د بایزید روښان او خوشحال خان پورې لومړنی آثار دغو ښاغلو پښتنو لیکلی دی.

مګر په لیکلو او ادبی سبك او اسلوب کښې چه کومې غټې غټې لارې چارې له دغو ښاغلو څخه تر مونږه را رسیدلی دی هغه په یو خالص ملی او معیاری بنیاد استوارې

لری. د کومې خاصی قبیلې یا لهجې په ملاحظه نه دی ایستل شوی .

دلته یو بل غټ دلیل هم شته: د پښتنو ژوند هغه وخت داسی و، چه د کوم لوی ښاریا کومی خاصې قبیلې د اغیزې لاندې نه و، بلکه تقریباً په یو ډول مساوات او قومی دیموکراسی بنا و نو قدرتاً ژبه او د ژبې ملی فورم او معیاری اساس د کوم خاص ښاریا خاصې قبیلې په لهجه ونه درید . نو دې جریان تقریباً دولس کاله یون او مزل کړی دی. نو په دې وخت کښې به ګومان کوم زمونږ وظیفه بی له دې بل څه نه وی چه همدغه لاره صافه ستره، لویه او هواره کړو نه چه ړنده ئې کړو. زه وینم او ګورم چه ځینی کسان په پوهه یا ناپوهی ځینی داسې خنډو خار په دې لاره کښې پیدا کوی چه د پښتو د ارتقاء خو، نه بلکه دراپرېوتو سبب کیږی.

نو دغه دلیل دی چه په دې وخت کښې لازمه ګڼو چه باید پښتو تصفیه شی .

مونږ ډیر لوی لوی شاعران لیکوال وینو چه هغوی آثار د پښتو د ملی او معیاری پائې نه ډیر تېټ دی دا آثار دوه ضرورونه لری: یو دا چه اثر په خپله لوړ حیثیت نشی موندلای او جامعه ئې په لته وهی بل دا چه د مشر لارد کشر پول دی» دغسې آثار د ادبی فوضویت او هرج ومرج او بی لاری مقدمه ګرځی نو په دې وخت کښې چه مونږ په هرشی کښې ارتقاً غواړو نو په ژبه او ادب کښې ولې انحطاط قبول کړو!. نو هر کله چه د پښتو د ژبی، ادب، ژبنیو څیړنو او ژبه، ادب او لیك د کمال خوا ته سوق کولو او تصفیه کولو لوی مرکز پښتو ټولنه ده نو په دې کار موګوتې پورې کړې. هیله ده چه زمونږ پیشنهاد ونه د پښتو د ټولو خواؤ د ارتقاً سبب شی نه د چاد خوابدی ،!....

د ژبی او ادبیاتو کار د فن او، هنر څانګه ده .فن او هنر علاوه له علم او مطالعې څخه ډیر مشق او تمرین ته اړه لری. نو که یو سړی فرضاً ډیر علم او معلومات لری او مشق، تمرین او تجربه یې لږه وی نو څه بدی به ولری که دغه سړی خپل آثار د ژبې ګریمر، سبك او اسلوب له پلوه د خپل ځان نه کوم یو وزیات تجربه کار له نظره تیر کړی او سره ئې

کاندی . هنر او کمال هیچا د مورپه ګیډه
کښی نه‌دی زده کړ ی ځکه نومونږ عادت
نېولی دی چه اوس هم خپل اثر هر څه چه
وی چه څو دخپلو څو تنو ملګر و له نظره
تیرنکړ و او د فکر او عبارت له پلوه
ورباندې استصواب وانخلوطاقت مونه کیږی
او دغسې ځینی څوتنه نور هم شته چه‌دخپلو
آ ثا رو په باب له مونږه مشوره اخلی. که
داسې ټولو کولای‌نوځینې‌اومه آثار چه‌خلك
ورته ګوته نیسی دومره به اومه نه وو په‌دې
کښی چاته څه تاوان دی ؟ او فایده خو ئې
څر ګنده ده . دپښتو د تصفیه کیدو یوه سمه
او لویه لاره دغه ده‌نورې خبری‌به بیاپه بله
مقاله کښې و لیکو دخیره سره .

په‌ځان باور

هر څوك چه‌په ځان باندې اطمینان او باور لری خلك د هغه ملګری کیږی .
په ځان باور یو داسی صفت دی‌چه د هر چا خوښیږی .
خلك له‌قطعی اویقینی مطا لبو سره‌مینه لری نه له دلا یلو سره.
دلیل اوبر هان دوګړو اند یښنه او پریشانی زیا توی .
اولس سادګی خو ښوی او په ساده خبرو پو هیږی .
خلکو ته باید څنګه اوڅه راز و نه وایو بلکه هوایا نه‌ورته ووایو او بس .

« انا تول فرانس »

ترنکوال

تشریحی ژبپوهنه

بنا غلی الهام ، پالو ال
که ه ، ۱ ، گلیسن ؟؟

د ۱۳۳۹ کال مرغومی اود ۱۳٤۰ کال لړم
ترجمهٔ یې بولیء که تألیف؟

زه د ۱٦ کاو نو را هیسې د ژ بې د گرامر دپوهېدلو او پوهولو په مرض خپل مشکلپسند طبیعت اخته کړی یم یعنې هروخت چه مجله (دهرهیواد چه وی)را وا خلم او دمجلې په سر کښې دمضا مینو فهر ست گو رم چه کوم گرا مری مضمون چالیکلی دی که یه؟

خو که چالیکلی وی نو هغه په دایره او د فتر کښې نگورم بلکه غواړم چه کور یې په ډیره کراره وگورم او ضمناً دیاد داشت کتا بچه هم را اخلم خپله معلو مات افزایی مې هم مطلب وی همدغه علت دی چه په دې مضمون کښې زه یوه تېر ه خاطره ښیم هغه داچه ماد۱۳۳۹د حدی په میاشت کښې دبناغلی الهام یومضمون چه عنوان یې « گرامر» و کتلی دی اوبیا دسږ کا ل د عقرب په میاشتې عین مطلب په بیلو عباراتو کښې د بناغلی پالوال په ترجمه کړی مضمون کښې چه عنوان یې « و یه The Morpheme » و،ولیدل شو دلته ماته د بناغلی الهام د گرامر د مضمون تالیف دبنا غلی پالوال ترجمه کړی مضمون غوند ې وایسید ی په د ې لاندې شوا هد و ۱ـبناغلی الهام د«۲ـ مورفیم څه شی دی ؟»

تر شمیرلاند ې لیکی : « په عام طور سره ، مورفیم دفونیمولنډ اومختصر غوندې تسلسل اوتوا ترته وایی دفونیمو دغه ډول تسلسلات بیا تکرا ریزی خوټول تکرار کېد ونکی تسلسلات مورفیم نه وی د مثال په توگه په همدې حاضر بحث کښې (له ـ۱ـ څخه تردې ځایه پورې) د«د» صوتی تسلسل (۱۷) ځایه اود « وا » صوتی تسلسل (٥) واره استعمال شوی دی ...) دبنا غلی پالوال ترجمه کړی مضمون داډول دی په عین ماده کښې: «۲- ویی

(مورفیمونه) عموماً د ږوغو (فونیمو) لنډ ې سلسلی دی، د غه ږوغی سلسلی تکرا ری Recurrent د ی مگر ټو لې تکرا ر ی سلسلی ویې (مورفیمونه) نه دی مثلا په دمخنی پره گراف کښې د «د» de ږوغی سلسله څوارلس (۱٤) پلا او «لی» Li ږوغی (فونیمی) سلسله (٥) واره واقع شوې ده ...» د ښاغلی الهام دریمه ماده داده : « د فونیم او مورفیم توپیر:

فونیم بې معنی او مورفیم معنی لرونکی صوتی واحدونه دی د« وا» او « د » یوازینی توپیر (زموږ په همدې مثال کښې) هم په همدې کښې دی یعنې «د» دخپل استعمال په دغو ټولو (۱۷) ځایو کښې معنی هم لری یعنې دپښتو دمعنوی رغاونی له اړخ سره اړیکی څر گندوی حال داچه «وا» هیڅ کوم معنوی خصو صیات نه لری بلکه دځینو مورفیمو په تشکیل او رغولو کښې مثلا په « دی خوا» یا «یوازې » کښې برخه لری .

. . . »

دښاغلی پالوال ترجمه په دریمه ماده کښې داډول همدغه مطلب ښکاره دی :

«۳ـ د«لی» او« د » ترمنځ توپیر پر دغه واقعیت باند ې تکیه کوی چه « د » په هره یوه دخپلو څوارلسو راتلنو کښې یوه معنا لری چه هغه دساختمان له ځینو عناصرو سره دژبې د مضمون له نقطهٔ نظره څه رابطه ده په داسې صورت چه «لی» معنانه لری ، پرته له دې چه دغه له ځینونو روږوغی (فونیمی) سلسلوسره ټاکلی ټوټی جوړوی لکه: اصلی، لیرې، مفصلی . . .

. . ،

ښاغلی ا لهام تر(٤) مادې لاند ې لیکی:

«مورفیم دژبې لفظې معنی داره اصغری واحد دی او هسې چه پورته مواشاره و کړه دمورفیم مطالعه د گرامر موضوع ده نو په دې حساب باید وویل شی چه گرا مر دمورفیمو مطالعې ته وایی . . »

ښاغلی پالوال تر(٤) مادې لاندې لیکی:

«ویه دمورفیم په ژبپوهنه کښې ترږغ (فونیم) وروسته دوهم اساسی واحد پیژندل شوی دی ترا وسه پورې خوئې هیڅ تعریف ندی در کړه شوی اودغه باید وویل شی چه یودقیق تعریف ئې کیدونکی نه دی، ښایې چه ښه ترین تعریف دې ئی داسې و کړه شی چه ویه (مورفیم) یو کوچنی ترین بامفهومه وا حد د ی مگر ... »

ښاغلی الهام تر پنځمې مادې لاندې لیکی:

« ٥ـ مورفیم دژبې دساختمان لفظی معنی داره اصغری واحددی.

ښاغلی پالوال لیکی: «دژبې په ساختمان کښې ځینې وئی (مورفیمونه) د کوچنیو بامعنا واحدوپه توگه بیانید لای شی...»

ښاغلی الهام په شپږمه ماده کښې دا ډول لیکی: « مورفیم او هجا یوشی نه وی ـ د (ښکار) مورفیم یوه هجاده او پښتو دغه راز نور مورفیمونه هم لری خو (مرغاره) یومورفیم دی مگر څلور هجاوې لری . . . . . »

خو ښاغلی پالوال دامطلب دا ډول ترجمه کوی: « ٦ـ یو ه ویه (مورفیم) داسې نه ده لکه یوه سیلابه خو پیښیږی چه ویې (مورفیمونه) دې یوسیلابه هم وی مثلاً سپور، لمراو ... . »

ښاغلی الهام تراوې مادې لاندې لیکی: «۷ـ مورفیم یاله یوه فونیم څخه او یاله څو فونیمو څخه تشکیلیدی شی ـ «ې» په «تلې» او «د» دفارسی په «خورد» کښې ددې حقیقت یو څرگند مثال دی . . . . . »

ښاغلی پالوال هم دترجمه کړی مضمون تراوې مادې لاندې لیکی: «ودې شی چه یوه ویه (مورفیم) دې دیوه واحدزوغ (فونیم) لرونکی وی چه د راوړه شوی مثا ل «ځی» وروستی «ی» مگر . . . . . .

دغه زوغ (فونیم) په ډېرو داسې ځا یو کښې واقع کیږی، چیرې چه له هغې ویې (مورفیم) سره هیڅ سرو کار نه شی درلودای لکه ...»

ښاغلی الهام د خپل مضمون په اتمه ماده کښې لیکی: «۸ـ مشترک مورفیمونه: په هرې ژبې کښې ډېر داسې مورفیمونه هم شته چه شریك لفظی اړخونه لری خو په معنا کښې توپیر لری داډول مورفیموته مشترك الصوت Homophonous مورفیمونه وائی مثلاً ...»

او ښاغلی پالوال په خپل ترجمه کړی مضمون کښې تراتمې مادې لاندې داډول لیکلی:

«۸ـ ډېر داسې پیښیږی چه دوه ویه ایز (مورفیمی) عناصر دې په عبارت کښې یوشانې وی مگر په مضمون کښې دې توپیر سره ولری ودغسې یوې جوړې ې ته نوهم آواز Homophonous یادلغت له مخې ورته مشابه آوازه ویل کیږی مثلاً . . . . . »

دښاغلی الهام د مضمون (۹) ماده وایی:

«ـ۹ـ معنا : ـ

که مورفیم دژبې دساختمان معناداره اصغری واحد وبالمی شی. نودې پاملرنه وشی چه د « معناداره »یاد « معنا» د کلمو غلط تعبیر دې ونه شی «معنا » په دې تعریف کښې له هغې را بطې څخه مراد دی چه دیوې ژبې مورفیمونه یې دلفظی ساختمان داجزاو(محمول) په حیث له خپلو مقابلو معنوی واحدو «موضوع» سره لری په بل عبارت . . . . »

خو پالوال په خپل ترجمه کړی مضمون کښې داماده داډول افاده کوی:

« که چیرې د ژبې په ساختمان کښې ویه «مورفیم» دیوې کوچنی بامعنا غوندې بیان کړه شی ، نوباید هرومرو احتیاط وشی چه دبا« معنا» او « معنا » وایې (کلمی) غلطی- تعبیر نه شی «معنا»داسې قصد کړه شوې ده څود هغې رابطې نمایندگی و کړی کومه چه دیه ې ژبې په عبارتی سیستم کښې دیوې برخې په توگه دویو«مورفیمو»ترمنځ موجودوی او هم ددغې ژبې په مضمونی سیستم کښې مقایسه کیدونکی واحدونه وی په عباتی سیستم کښې . . . . . »

دښاغلی الهام دمضمون لسمه ماده داډول شروع کیږی: «دژبې مضمونی ساختمان په ښکاره ډول سره څرگندیدونکی نه دی . . . . . »

مگرد ښاغلی پالوال د ترجمه کړی مضمون عین مضمون په دې ډول شروع کوی: «دیوې ژبې مضمونی سیستم په مستقیم ډول سره د لیدلو وړ نه وی.....»

ښاغلی الهام دخپل مضمون په (۱۱) ماده کښې وایی :«دځینو مورفیمو معنا، یعنې دلالت یې پر هغو انسانی تجربو چه د ژبې له سیمې څخه بهر دی په جزیی یا کلی ډول څرگند نه وی مثلاً زه پښتو ټولنې ته ځم .....»

مگردا مضمون دپالوال په ترجمه کړی مضمون کښې داډول دی :

« ۱۱ ـ په ځینو هغو ویو« مورفیمو» کښې چه «معنا»ئې دبشری تجربې و خارجی ادراك ته راجع کیږی ، نو هلته ددغې ویې معنا پر مخ یا په لویه پیمانه سره نه شوموندلای مثلاً د «چه» ویه په «زه غواړم چه وځغلم » کښې . . . .»

خیر تر دې ځایه تاسې ته دبو ه تألیف او ترجمه کړی مضمون مطالب څرگند شول او موږ تاسې ته صرف د هرې مادې شروع وښود له چه یو مضمون بلل کیدلای شی دا مضمون ټول په (۲۷) مادو کښې ترجمه شوی دی او تاسو به ئې

زما د قول دتصدیق د پاره ټول و ګورئ چه اصل حقیقت در معلوم شي چه د بناغلي ه ـ ا ـ ګلیسن د کتاب یا تشریحي ژبپوهنې یو چپتر دی او داپول نور چپتر و نه هم زما خاطر و ساتلی دی چه په خپل وخت به تاسې ته وښودل شي .

مګر خبره دا ده چه زه ئې په شك کښې اچولی یم او په دې شان چه دامضمون بناغلي الهام څرنګه د تألیف په نامه لیکلی دی او ولې دې مضمون ته د همدومرې هغه یووالی په سبب چه د ده او د بناغلي ګلیسن په تشریحي ژبپوهنه کښې د یوه علمي ترادف په حیث کیږي، نژ د یوالی شته زما په خپله خو دا خیال دی چه مضمون یو مضمون دی صرف پر یوه د تألیف او پر بل د بل تألیف نوم ایښودل شوی دی. یا خو د بناغلي پالوال دا ترجمه ماته د انګلیسي نه نه ایسي بلکه وایم چه د بناغلي الهام د مضمون نقل به وی په یوه بارز عبارتي فرق خوای کاش د بناغلي ګلیسن کتاب دا چپتر په خپل کتاب کښې نه درلودای ځکه موږ ئې پر دوی دواړو د شخړې په اعتبار د شك او تردید څخه خلاص کړی یو او مجبوره یو چه ووایو:

ه ـ ا ـ ګلیسن !

ګلیسن ! ګلیسن!

؟ ! !

نه داچه الهام او پالوال !

؟ ! !

بدی خبرې

بدې او ناوړه خبرې چه زیان او ضرر لری ډېرې ژر خپریږی، ښې او حسابی خبرې چه فایده پکښې وی ژر نه خپریږی .

هو ! بدې او ناکاره خبرې لکه تلونکې او خپریدونکې ناروغی له یوه نه بل ته اوله بل نه بل ته ځی .

ښې خبرې لکه صحت او روغتیا له یوه نه بل ته نه درومی . «مترلینک»

دښاغلی الفت دافغان اوشوروی ددوستی

ټولنې اودپښتوټولنې درئیس وینا

گرانو میلمنو-جلالتمآبانو-ښاغلو اومیرمنو!

ډېرخوښ یم چه دافغان اوشوروی ددوستی ټولنې لهخوا ددوست اوګاونډی هېوادیعنې اتحاد جماهیر شوروی یوه داسې مشهور اومعروف شخصیت ته ښه راغلې اوهر کله را شې وایم چه دخپل عصر لهټولو خلقونه یوخاص امتیازلری او هغه زمونږ ډېر د روند او قد رمن میلمه ښاغلی میجر گاگارین دی (چه محترمه میرمن یې هم ورسره ده اومونږورته مخصوصاً ستړې مشې وایو).

ښاغلی میجر یوری گاگارین اوهمدا رنګه دده دسفر نورو ښاغلو ملګروته هم په ډېره مینه هر کلی وایو چه اوس یې مونږ دزمکې په مخ (له ځانه سره په یوه برابره سطح کښې) وینوهغه لومړنی مسافردی چه دزمکې له هوانه ،پورته دعروج اوارتقاء ډېر هسک ځای ته ختلی اورسېدلی دی. هغه ځای چه پخواترده بل چاپکښې عرض وجودنه وکړی اونه پکښې چاستر گې غړولې وې.

دی لومړی سړی دی چه دانسانی پرواز سیمه یې ډېره پراخه کړه او دسپوږمۍ گریوان او لمنې ته یې دلاس اچولو هڅه وکړه.

دا یو منلی حقیقت دی چه دغه جهان حیرانوونکی اقدام دشوروی پوهانو دعلمی تفوق اوبرتری محصول واو دعلم په خارق العاده قوت اوقدرت یې امکان پیدا کړمگرد میجر گاگارین بېمثاله جرئت اودزړه قوت هم پکښې دومره برخه درلوده چه ده ته یې دجهانی قهرمان حیثیت ورکړاو دټول جهان ستر گې یې ورته متوجه کړې.

دا کاردهرچاپه نظر کښې ډېرلوی اهمیت لری اوهرچاته دیوه لوی جهانی تحول آغاز اومقدمه معلومیږی چه عاقبت اوانجام ته یې ډېرلوی انتظارموجوددی.

کله چه دده د لوړ پرواز خبر په جهان کښې په ډېر تعجب خپور شونو په ټول عالم کښې یې یوعجیب انعکاس راپیدا کړچه ذهنونه فکرونه اونظرونه یې یو بل عالم ته متوجه کړه.

دې کار د ډېروهېوادونو او د ډېرو خلقو دمبارکی تلگرامونه اتحاد جماهیر شوروی ته مخابره کړه اوهرچاډېرلوی موفقیت وگاڼه.

که دغه کارته په ادبی نظر و گورو او له ادبی تشبیهاتو نه کار واخلو ویلی شو چه دزمکې له کرې نه وتل او بیا بېرته دې کرې ته راښکته کېدل داسې مثال لری لکه چه روح له بدنه لوړ عالم ته والوزی او بیا بېرته خپل کالبوت ته راښکته شی.

انسان په زرگونو کالو دترقی په لورهرې خواته منډې وُوهلې مگر تر دغه وخته یې دزمکې له سیمې او حدودو نه بهر قدم نه وایښی او لومړی ځل یوری گاگارین دشوروی پوهانو په مرسته دزمکې له هوانه اوچت والوت چه دعلم او پوهې په لحاظ ډېر لوی بریالیتوب او دخارجی فضا دتسخیر فتح الباب ورته ویلی شو.

دا سفر له هغو ټولو سفرونو نه چه انسان تر اوسه کړی دی لوړ او عالی و. له دې لوی او مهم سفر نه بېرته صحیح سلامت راتگ دشوروی پوهانو دعلمی او عقلی نبوغ ډېر لوی ثبوت دی او په دې ارزی چه داتحاد شوروی په ملیونو وگړی پرې افتخار وکړی او ددنیا په کر وړونو خلق ورته افرین او مبارکباد ووایی.

دا کار که په خصوصی لحاظ د شورویانو ډېر لوی او ستر علمی موفقیت او لوړوالی ثابتوی نو په عمومی لحاظ دټول بشریت دپاره یو نوی دور گڼل کیږی چه ډېر ستر تحولات او نوی نوی انکشافات ورپسې راروان دی. کېدای شی چه بشر د دغسې لوړو پروازونو له برکته ډېر لوړ نظر او ډېر عالی همت هم پیدا کړی او په اخلاقی لحاظ له ټیټو خواهشاتو نه ډېر او حجت شی.

دافغان او شوروی ددوستی ټولنه چه دخپل دوست او گاونډی هېواد دغه ستر موفقیت ته ددوستی په نظر او ددوستانه احساس له عینکو گوری نو ښاغلی گاگارین ته دډېر وښو تمنیاتو په څرگندولو علاوه د ده د پاره نور هم ډېر موفقیتونه غواړی او په لید وئې خپله ډېره خوشحالی څرگندوی.

مونږ ددوستی په تقاضا هیله او آرزو لرو چه زمونږ ددوست او گاونډی هېواد دغه راز موفقیتونه به دجهان دخیر او بهبود دپاره او دجهانی صلح دتامین دپاره گټور او مفید ثابت شی.

تل دې وی دافغان او شوروی دوستی او روغ نیتی.

همیشه دې وی ددنیا صلح او روغه.

لوړ دې وی دعلم او پوهې پروازونه او بیرغونه.

د «سیانه» په قلم

تعادل

په ژوند او ادب کښې

ښاغلی توفیق الحکیم

ښاغلی هدایت

دپښتو ټولنې دسږ نو نشریاتو په لړ کښې دمصر دنامتو لیکوال توفیق الحکیم «تعادلیة» نومی اثر چه ښاغلی عبدالهادی «هدایت» دعربی نه پښتو کړی چاپ شوی دی.

کتاب په وړه قطع په (۱۴۰) مخونو کښې په دولتی مطبعه کښې چاپ شوی دی په لومړی سر کښې یې دجناب گل پاچا «الفت» دپښتو ټولنې درئیس تشو یقیه اوبیا دجناب قیام الدین خادم دپښتو ټولنې دغړی د کتاب ، مؤلف او مترجم معرفی اوبیا پخپله دښاغلی مترجم دمقدمې په ډول د «داپاڼې ...» ترعنوان لاندې څو خبرې لیکلی او چاپ شوې دی.

د کتاب په اصل او ترجمه کښې د فصلو نو او بابونو عنوانو نه نه شته خو د چاپ د طرز څخه څر گند یږی چه بحثو ه یې څه فرق سره لری اویو په بل پورې نښتی معلو میږی ددې علت شاید دادی چه دهر بحث د پاره دا سې لنډ او جا مع عنوان پیدا کول مشکل و چه دټول بحث نه پوره نما یندگی و کړی شی لکه څنگه چه د کتاب نوم او عنوان چه سړی و گوری او کتاب یې نه وی لوستی داسې فکر نشی کولی چه کتاب به په دې طرز لیکل شوی وی لکه چه دا لیکل شوی او یا شاید د مؤلف پکښې تفنن غر ض وی .

ښاغلی مترجم پخپله مقدمه کښې لیکلی چه: «کاشکې زما دیوې خوانه قلمی طاقت اودبلې خوانه دپښتو ژبې لمن دهغو خوږو اداگانو دتعبیر دپاره لږ څه پراخه وی» زما په عقیده دترجمې په ضعف د مترجم اعتراف په ځای او دلیل یې بېځایه دی ځکه چه دده د قلم توان او قدرت دده پخپلو لیکنو کښې نسبت دې ترجمې ته زیات دی دمثال په ډول په همدې مقدمه کښې دده دغه عبارت ته تاسو توجه وکړئ چه څومره پوخ او متین دی: «دده ژبه چه په خپل فن او ادب کښې څومره خوږه ده هغومره تیره هم ده او څومره چه تېره ده هغومره ژنه او سوچه هم ده» دا عبارت لکه څنګه چه دتوفیق الحکیم دقلم توان او قدرت بیانوی دغسی دمترجم دقلم په توان او قدرت هم دلالت کوی همدارنګه دمقدمې په اخر کښې لوستونکی ددې کتاب دمطالعې د پاره داسې تشویقوی چه کتاب مکرر ولولی بې لدینه چه دلیکونکی دتکرار لوستو په نغوته پوه سی په دې ډول چه: «هو! که د کتاب وروستی فصل لومړی ولوستل شی نو دلوستلو په فن باندې یې یوه رڼا اچولې ده کیدای شی چه په هغې رڼا کښې هم زما هم دمؤلف او هم دګران لوستونکی نیت او مراد تر سره شی خو په دې شرط چه د کتاب ټول بحثونه ولوستل شی ځکه چه دلته دهر لومړی بحث انتها دوروستی فصل ابتداده او دهر لومړی بحث نتیجه د وروستی فصل د مبدې حیثیت لرې په لنډ عبارت دهغې یوې پوښتنې پوره ځواب په ټول کتاب کښې میندلی شی خو په یو شرط دا شرط؟ تاسو پخپله د کتاب دلوستلو نه میندلی شیء» که څه هم عبارات یو څه معقد او غوټن معلومیږی خو خپل مطلب یې پکښې په ډیر مهارت تیر کړی دی شاید چه همدا د مطلب تیرول یې د عبارت دتعقید سبب شوی وی.

دپښتو لمن هم دومره لنډه ګنډه نه ده چه د مترجم په زړه دهغو تعبیر ونو او اداگانو ارمان پریږدی چه د کتاب په اصل کښې موجودې وې ځکه چه کیدای شی دغه موجوده ترجمه تر دې لا ښه اداشوې وی او په خوږو تعبیر ونو پښتو شوې وی.

زما په عقیده دترجمې دضعف علت دادی چه دښاغلی مترجم دا او له ترجمه ده چه له عربې څخه یې په پښتو کړې ده هغه هم دتوفیق الحکیم دا ثر ترجمه. که قلم هر څومره پراخه وی چه مترجم په دواړو ژبو پوره حاکمیت ونلری ترجمه به یې خامخا کمزورې وی.

زه‌دده ترجمې ته دده په اقرار کمزوری نه‌وایم ځکه چه‌دې قاضی دی اوو به وائی چه اقرار حجت قاصره دی‌بله داچه د قاضی په مخکښې په‌اقرار اواعتراف الزام راځی نه د قاضی په‌اقرار. اواعتراف نوځکه‌زه دترجمې دکمزوری دپاره په لاندې ډول شواهد او دلایل‌راوړم.

۱. د کتاب‌په‌لسم‌مخ کښې‌دنویمې کرښې‌نه‌تر پنځمې کرښې‌پورې‌داعبارت‌بنه‌معنی نه‌بښندی‌چه: «ادیب اوفنکارهغه وخت د انسان هغه موقف پوره نشی پیژندلی چه پخپل‌عصر خپل ولس خپله جامعه اوعالم کښې‌یې‌لری کله چه‌دفن اوادب رابطه یې دهغه وخت دعلم‌او ثقافت نه شلید لی وی) ماسره اصل کتاب نشته چه داعبارت داصل‌سره تطبیق کړم چه دمترجم خطائی څرګنده شی -هو! که عبارت په غور اوتکرار ولوستل شی‌څه تری‌فهمیدی شی‌خو هغه ددې دلیل نه شی کیدای چه ترجمه کمزورې نه ده.

۲:- داته‌ویشتم مخ‌په شپږمه کرښه کښې داسې‌وایی‌چه. «اودهمدې ځای نه‌د کهربائی مشال‌غوندې ناڅاپه روښانه کیږی» کهربائی قوت یا کهربائی چراغ نه مطلب دبرق قوت یا برقی چراغ دی اوپه موجوده عربی کښې دبرق دپاره کهربائی اصطلاح مستعمله ده - مګر بناغلی مترجم هماغه کهربائی لفظ استعمال کړی چه‌په پښتو کښې‌یې افهام مشکل شوی دی.

۳:- ده «کوم‌چه»، «کله‌چه» «کله نه کله»، «څه‌نه‌څه»، «ورسره»، «وروسته، وروسته»، «زیاتی‌نه زیاته» «پوره،پوره» «اوس، اوس»، «کم‌تر کمه» په استعمال‌یې پښتود پردو ژبو رنګ غوره کړی.

٤:- د «شولو» «کړلو» «کړله» «راغلو» «ومنلو» «وکولو» «ونه کولو» «وویلی» «نشته دی» «شته ده» «پرېښودلو» په استعمال یې لهجې محلی رنګ اخستی.

٥:- په‌ته پنځوسم مخ‌په اولسمه اواتلسمه کرښه کښې داسې لیکی (دخل وخرڅ «ګټه اومصرف») ددخل وخرڅ چه دخل یې عربی اوخرڅ یې پښتو دی تفسیرپه ګټه اومصرف چه ګټه یې پښتواومصرف یې‌عربی دی‌عجیبه شان برینبی.

د بناغلی مترجم دا خبره هم کمزورې ده چه: «توفیق‌الحکیم په خپل فن‌او ادب کښې په کوم مذهب نه دی روان مګرپخپله په‌فن اوادب کښې دمذهب مؤسس دی» ایا دی دخپل تاسیس کړی مذهب پیرو هم‌نه دی؟

دابحث به وروسته راشی چه توفیق دیوخاص مذهب پورې دفکر، فن او ادب انحصارولو مخالف دی. تعادل څه شی دی؟ جناب خادم پخپله وینا کښې ویلی دی چه : (نودمصر اوافغانستان په منځکښې دغرب اوشرق دافکارو په انتقال تعادل اومنځنۍ مفکورې په باب قدیمی او روایتی تناسب او توافق موجود دی) د دې عبارت دنورو اړخونو سره کار نلرو صرف په منځنۍ مفکورې د تعادل په تفسیرولو باندې څه رڼا اچوو .

مصر اوافغانستان که دشرق اوغرب ارتباط ساتلی اومفکورې یې نقل کړې وې نو هغه منځنۍ میانه یااوسط فکرونه نه دی بلکه هغه دشرق دمترقی اوعالی فکر انتقال دی غرب ته اودغرب دعالی اومترقی فکر انتقال دی شرق ته .

جناب خادم په مناظرو او بحثونو کښې دمنځنۍ اواوسط سخت مخالفت کوی او وائی چه اوسط طلبی مسابقې او رقابتونه له منځه وړی اوارتجاعی فکرقوی کوی خو دلته بیا دتعادل تفسیر په منځنۍ مفکوره کوی ؟ دده سره چه هرفکروی، وی به زماپه عقیده چه دمؤلف دتعادل نه مراد انداز ساتل دی لکه چه په دوه دیرشم مخکښې په نهمه کرښه کښې وائی :(په برابره اندازه)اوپه -

نه پنځوسم مخ کښې په لسمه اودیارلسمه کرښه کښې لیکی:(یعنې دخپل حدنه واوړی) دحدنه اوښتل معنی بې اندازې کېدل دی چه په پښتو کښې ورنه (د خپلې شړۍ سره خپې غزول) تعبیرښه اوجامع تعبیر ښکاری. توفیق الحکیم په لومړی بحث کښې داڅیړی چه انسان یو زمینی مخلوق دی او دځمکی سره ارتباط لری اود ځمکې بقاپه تعادل ده نودانسان ژونداو بقاهم دتعادل پورې اړه لری اوڅومره چه دانسان دژوندټول اړخونه پوره متعادل وی هماغومره انسان مستریح ارام او مطمئن وی او څومره چه دا تعادل کمیږی هماغومره دانسان ژوند داضطراب اوتشویش نه ډکیږی . په دوهم بحث کښې په ځمکه کښې دانسان دارادې اوعمل مطلقه ازادی په عقلی استدلال اودزړه په شعور څیړی اووایې چه عقل لاپه مخکښې موانع لری تراوسه لا مطلق ازادنه دی ترڅوچه خپله څیړنه تکمیل کړی او د څیړنو تکمیل معلومه نه ده چه څومره موده غواړی ؟ مؤلف وایی چه زه دخپل زړه په شعور اوایمان دامنم چه دانسان څخه فوق یوه هستی شته چه دانسان دارادې اواعمالو څار او کنترول کوی دی وائی چه دانسان عقل وړاندې تللی

اوزړه ئې په خپل خموداوجمود پاتې دی اود
عقل اوزړه تعادل ګډوډ شوی دی ځکه نننی
انسان مضطرب او مشوش ښکاری. دی بحث
اوزدوی اووایې که د اروپائیانو غوندې انسان
فعال مایرید و ګڼل شی اودا ورته ووایو چه
ته دځمکې مطلق مالك یې هیڅ شی سنا اراده
اوعمل نشی کنترولولی نوانسانان پخپلو کښې
اخته کیږی ځکه چه یوانسان دخپلې ترقی
اوحریت مانع بل انسان بولی نه طبیعت نود
انسانانو ترمنځ ددښمنی اورلا تازه کیږی او
که ورته ووایوچه تقدیر ستاپه سر نوشت کښې
لاس لری اوستا دترقی او ازادی په مخ کښې
یې یوڅه طبیعی موانع ایجاد کړی نو انسان
به نه یوائې داچه د تقدیر په مقابل کښې
لاس ترزنې کښې نه نی بلکه دطبیعی موانعو
دلری کولو دپاره به زیاروباسی اوپه دې ترتیب
به دانسان مخه یوې مشترکې موخې اوهدف
ته راواوړی اوپخپلو کښې به ددښمنی نه لاس
واخلی . دی انسان لکه دمچ او میږی غوندې
د غریزی اعمالو پهاجرامجبورنه بولی بلکې
دعقل په لرلو په اراده اوعمل کښې حر او
ازاد بولی خود دې ازادی په مقابل کښې یې
دیوفوق بشری قدرت له خوا خنډو نه پیدا
کیږی چه دده د کنترول باعث ګرځی نو انسان
دذغه حریت اوازادی په وجه مسئول دی چه
په خپل ارادی عمل چاته خیر رسوی او که
شرخیر. بل ته ګټه اوشر بل ته زیان رسول.
شرپه حب ذات بنابولی نوځکه انسان شریر
بالطبع دی اوخیر په حب غیربنابولی نوځکه
انسان خیر بالطبع نه دی. خیر اوشر دټولنې
مولود ګڼی ځکه چه بل نه وی نوخیراوشر
به څنګه ورورسیدی شی؟ اودبل وجود دټولنې
معنی ده. دی وایی لکه څنګه چه دانسان
دعقل اوزړه ترمنځ تعادل ضروردی دغسې په
ټولنه کښې دخیر اوشر ترمنځ تعادل ضروردی
نوپه دې وجه بایدغیر دقصاص او حدودوڅخه
نور جرمونه یه کفار واصلاح شی نه په تعزیر
ځکه که دلته دشر جواب په شرور کړل شی
نوطبعاً دخیر اوشر ترمنځ تعادل له منځه ځی
اویواضطراب پیدا کیږی دخیر اوشر وجود
دضمیر وجودته منتهی کیږی ضمیر هغه پټ
اوازدی چه انسان بل ته دضرر په رسولوملامتوی
اوپه فایده رسولو یې ستاینه کوی. همدغه ضمیر
دی چه دخیر اوشر ترمنځ تعادل ساتی اوپه
اخلاقی اصطلاح یې عدل بولی په سیاست کښې
لکه غریزه وچ اواوتوماتیك قوا نین تعادل
ساتی. همدا رنګه په اقتصاد کښې دعرضی او
تقاضاترمنځ تعادل په ردالعمل اویاتعویض ساتل

کیږی دی وائی درد الغمل نه دتعویض مظاهر زیات دی. که یو استعماری قوت داستعمار لاندې خلك هر څومره دیوې خوانه کمزوری کړی په قدرتی ډول ددې کمزوری عوض بلې خواته مخه کوی او داستعمار لاندې خلکو بله خواقوی کیږی او په دې ترتیب داستعمارجو او استعمار شوی ترمنځ تعادل قایمیږی او وایې چه دمطلقې سلطې په وخت کښې دمحکوم دقوت منفذفکری رجال دی اوله همدې ځایه ددوی قوت راوځی وده کوی او ځوانیږی نود فکر خاوندانو ته لازم دی چه دفکر، فن او ادب تعادل دمادی قدرت او سلطې سره وساتی دمادی قدرت مظهر سلطه ده او دروحی اقتدار مظهر فکر دی پخوا به د سلطې خاوندانو دفکر خاوندان کله په طمع، نشو یق او کله په تهدید او توبیخ دخپل اقتدار لاندې راوستل اوس دسلطې خاوندان دفکر خاوندان دعمل میدان ته را کش کوی او په دې ترتیب د مفکر نه عملی سړی جوړ شی او فکر عمل و ګرځی چه په دې وجه دفکر او عمل ترمنځ تعادل وران شوی او موجوده دنیایې مضطربه کړی ده. دې وائی چه: د فکر خاوند باید هیڅ وقت دعمل سړی نه شی او فکریې په خاص هدف پوری مقید نه شی ځکه که دی یوخاص هدف تعقیب کړی نو دغه هدف دده ایمان ګرځی او ایمان دفکر حرکت سلبوی یو ادیب او مفکر باید دهغه فکر تبلیغ و کړی چه دی یې پخپله منی او په هغې کښې شکمن وی او تغیر او تحول ته پکښې هم حاضر وی دی وائی زه چه وایم مفکر باید عملی سړی نه وی د دې معنی دا نه ده چه مفکر دې د اجتماع او سیاست څخه انزواغوره کړی بلکه مطلب مې دادی چه د یوخاص هدف دپاره خپل فکر په کار اچول دفکر او ادب حریت سلبول دی او فکر عملی کول دفکر انتها او انجام دی.

دی لکه څنګه چه دژوندد مادې او ادبې خوا ترمنځ تعادل لازم بولی چه د هغه ادیب په زړه به خلك وخاندی چه نن دمعشوقې حجاب او نقاب وستایی او یا په جنګ کښې د تورو برېښنا او دغشو ګوزار و نه وستایی دغسې دی په ادب کښې دتعبیر او تفسیر ترمنځ تعادل لازم بولی او په تعبیر کښې د اسلوب او موضوع په منځ کښې تعادل لازم ګڼی که موضوع د ټو کو، ټکالو وی نو ر اسلوب هم باید هماغسې وی او که موضوع جدی وی نو اسلوب یې هم باید جدی وی که موضوع شانداره و ی نو اسلوب یې هم باید په هماغه اندازه شانداره وی

او که موضوع سپکه وی نو اسلوب یې هم باید سپك وی تعبیر د اسلوب او موضوع نه عبارت دی چه یوه پېښه څنګه چه وی همغسی په متعادل ډول بیان شی او تفسیر د ادیب او متفکر پیغام او قضاوت د ی چه د هغې پېښې د بیان په ضمن کښې یې لوستونکی ته وړاندې کوی نو باید د تعبیر او تفسیر تر منځ تعادل موجود وی که د یو ې وړې پېښې څوك داندازې نه زیات تفسیر و کړی او یا دلو یې حادثې وړ تفسیر و کړ ی نو د لته تعا دل وران او دغه داب ته ادب نه ویل کیږی. هغه ادب چه صرف تعبیر وی او تفسیر ونلری هغې ته «ادب د خوند دپاره» ویلی شو او چه تفسیر ولری نو هلته «ادب د ژوند دپاره» مطلب وی.

توفیق الحکیم د کتاب په آخر کښې د لوستلو په باره کښې هم نظریه ښکاره کړې او لوستل یې هم د لیکلو غوندې فن ګڼلی او لوستونکی ته د لیکونکی غوندې په ارزښت او اهمیت قایل دی د د ې کتا ب مطالعه او لوستل د توفیق الحکیم د نورو آثارو په هدف اوغایه رڼا آچوی او د مسلکی لیکوال او ادیب او شوقی نویسنده تر منځ په فرق لوستونکی پوره پوهـوی.

له مرګه نه ویریزم

له مرګه نه ویریزم که څوك راته ووایی چه نن شپه مرې زه به ووایم چه د خدای رضا مې قبوله ده مګر خدای دې نه کاچه څوك راته ووایی:

دیوه تن ژوند متا له لاسه تریخ د ی.

«کانت»

دڅلورم مخ پاتی

نوې ژبپوهنه

وروستی برخې بیل بیل فونیمونه ی. خولیکل کیږی په عین بڼه یعنې OUGH

دغسې د X ګرافیم هم یوازې یوفونیم نه ښیی. بلکه کله د KS غږ ښیی لکه په TAX کښې او کله هم د GZ لکه په EXAMINE کښې.

په همدې ترتیب C کله د K فو نیم ښیی لکه په CAT کښې او کله هم د C فونیم لکه په CENT کښې.

په همدې ترتیب د هغه فونیم د پاره چه په عمومی ډول په J سره ښودل کیږی کله کله د G توری استعما لیږی لکه د GEM په کلمه کښې.

دغسې هم د ځینو فونیمونو د پاره دوه ترکیبی توری یا ډای ګراف DIGRAPH استعما لیږی لکه TH د THIN لومړی فونیم، CH د CHIN دلومړی فونیم SH د SHIN دلومړی فونیم او NG د SING دوروستی فو نیم د پا ره.»

په همدې ترتیب انګلیسی لیك او املا کښې ځینې نورې ګډوډی هم شته چه موږ یې دلته له تفصیل څخه ځا ن ژغو رو او دې ته راځو چه په پښتو معمول لیك کښې د فونیم او ګرافیم د مطابقت له نظره څومره نیمګړتیاوې لیدل کیږ ی. ځکه له یو ې خوا نه دلته زما اصلی مطلب د پښتو د پاره د کره لیك او املا لټول دی او له بلې خوا داهم ده چه د انګلیسی مثالونه موږ (په اصطلاح) دلاتین ایکونو د نمونې په توګه د لته ذکر کړل او پښتو (په اصطلاح) د عربی لیك د نمونې په حیث را اخلو.

دا خبره ښکاره ده چه په پښتو کښې هم له دی اوچت پر نسیپ سره چه هر فونیم دې د یوې ځانته کښل شوې نښې یعنې ګرافیم په واسطه وښودل شی ډېر زیات مخالفتونه لیدل کیږی.

مثلاً د «ښځه» او «پسه» کلمات مختوم دی په بېلو بېلو فونیمونو مګر لیکل کیږی په عین توری یعنې (ـه) مګر د «ګل» او (...) د کلماتو «ګ» او «غ» نه وروسته فونیمونه رټ سره بو شی دی. مګر لیکل کیږی په جلا جلا بڼو یعنې یو یوازې په «ل» لیکل کیږی او بل په «ول».

دغه ډول هم «لـور ـ د مور لـور» او «لور ـ دلو آله» او «لور ـ رحم» د فونیمو ټوله

نظره یوله بل څخه تو پیر لری اما لیکل شوې بڼې یې رڼې یو شی دی .

په همدې ترتیب د «ز» واحد توري دوه جلا جلا فونیمونه ښیی.

دغسې هم د «ښ» واحد توری درې سره جلا فونیمونه ښیی .

په همدې ترتیب په عمومی ډول سره موږ د «خولی» د کلمې لمړی فونیم تل د «خ» په واسطه ښیو اما کله کله بیا همدغه فونیم د «ښ» په واسطه ښیو. همداسې د «خولی» او «راغلیء» وروستی بر خې د فو نیم له نظره عین شی دی . مګر لیکل. کیږی په بیلو بڼو دغسې هم دمخه ځینې فونیمونه ددوو تورو یعنې DIGRAPH په واسطه ښودل کیده لکه د «ڼ» د فونیم په برخه کښې چه د وو تورو یعنې «ن» او «ړ» په واسطه ښودل کیده او د کوڼ کلمه د «کوڼړ» په بڼه لیکل کیدله.

لنډه دا چه پښتو لیك او املا کښې ډېرې زیاتې ګډوډی او نیمګړ تیا وې موجودې دی چه دلته یې له جزئی تفصیلاتو څخه تېر یږم او وایم چه دا ټولې ګډوډی فقط له دې څخه راوتې دی چه د پښتو د فونیم او ګرافیم تر منځه مطابقت نشته دی.

نو ددې دپاره چه موږ یو پښتو کره لیك را منځ ته کړو دا ضرور ده چه پښتو د هر فونیم د پاره یوه واضحه کښل شوې نښه یعنې ګرافیم وټاکو او هم باید چه هره کښل شوې نښه فقط یوازې یو فونیم وښیی یا په بله ژبه زموږ کښل شوې نښې باید سو چه ګرافیمونه وی. اما په پای کښې بایدوویل شی چه د فونیم په بحث کښې زما خبرې په عام ډول سره د بلوم فیلډ خبره د اسا سی فو نیمو نو PRIMARY PHONEMES او د هغو د کښل شو و نښو یعنې ګرا فیمو نو په باره کښې وې او په مرکبو اساسی فونیمونو COMPOUND PRIMARY PHONEMES مې څه و نه و یل او دا ځکه چه دلته اصله مسأله پر ګرا فیم وه او کله چه د اسا سی فونیمونو د پاره ګرا فیمونه وټاکل شول ، هلته نو زیاتی د مرکبو اساسی فو نیمو نو یعنې ډ فتا نګز DIPTHONGS د کښل شوو نښو خبره خپله پخپله حل ده .

دغه ډول دلته زه د بلوم فیلډ خبره په ثانوی فونیمونو SECONDARY PHONEMES

او د هغو په کښل شوو نښو هم ونه غږېدم او دا ځکه چه دغـه مساعله هم لږ څه وروستی او دقیقه ده. داسې چه زموږ په عنعنه کښې هم د ثانوی فونیمو د کښل شوو نښو نیمګړی بحث یا زموږ په عنعنوی اصطلاح د «تنقیط» موضوع لږ څه وروستی ګڼل شوې ده. نوله دې امله یې دلته زه د څېړنې څخه تېر یږم او دا وایم چه اوس نو د پښتو د پاره د یوه کره لیك او املا درا منځ ته کولو مساعله په پښتنی مقاماتو پورې اړه لری. خو ښه ددوی چه خپل عنعنوی لیك د پورته رنسیپ یعنې دې سره عیار وی چه هر فونـیم دې ځانته ګرافیم ولری او هر ګرافیم به فقط یو فونیم ښیی او که داچه کوم بل آسانه او دجهانی علمی مقاماتو له خوا منل شوی لیك راا خلی او پخپله ژبه کښې یې تطبیقوی.

البته دا چه دپښتو ننني لیك دې بدل یا اصلاح شی او که یه؟

دا چه دا کار په اوسنیو شرائطو کښې امکان لری او که یه؟

دا چه دا کار هر څو مره ژرو شی ښه دی او که وروسته؟

او دا چه د پښتو لیك د بد لون د پاره څه شرائط په کار دی؟

دا بیا داسې خبرې دی چه زما په عقیده پرته د علمی خواوونه ځینې نورې خوا وې هم لری چه زه یې یادونه ددې مقالې موضوع نه بولم.

انشاء

دهرلیکونکی انشاء دهغه فکر آئینه ده.

که غواړی چه دیوه لیکونکی حقیقی ارزښت ځانته معلوم کړی دیته مه ګوری چه ده په څه موضوع کښې فکر کړیدی یادده دفکر محصول څه شی دی دیوه مؤلف اولیکونکی دمقام پیژندلو دپاره همدغه کافی ده چه موږ پوه شوچه ده څه رازفکر کړیدی اودفکر کولو طرزیې څنګه دی.

دهرچادفکرط زاوطریقه دهغه په انشاء کښې معلومیږی.

دهرلیکونکی انشاء لکه خمیره داسې ده چه مختلف شکلونه اوصورتونه قبلوی مګر دا صورتونه که هرڅومره مختلف وی بیاهم خمیره یوه ده.

ژواك

اشنا!

ر ړ ه کښې د ې لویه هیله شته د ه اشنا تا به د ځا نه سره پټ پټ و یـل :
« د طبیعت مظـا هر غـو ر ه ګـڼـم دا چه یم نا ست دیو ابشا ر تر څنګه»
« هلته چه پټه ز مز مه د ا و بو په یو مر مو ز حا لت همد ا وایی : »
« حر کت ژو ند د ی څه تیزی ده پکار سکون به مرګ بولو او مرګ دی کنه!»
«یاخو سپو ږ می دڅور لسمې شپې وی بله ډیوه د د ې جهان کا له کښې »
«ز ما د خیا ل پر و ا ز تر هغه ځا یه هغه ښا یست هم په ما و ستا یه شی »
« کله لا د ښته یا د غر و لمنې شپو نکی شپیلۍ و هی د ګا ری پرسر»
« ما ته د ر و ح غذ ا و ی د غه نغمه څه ښه تسل د د ر د من زړه په کیږی »
« یا د ز ړ ګو ټی سر ه پټ را ز و نیا ز جها ن و ی بل د نیا ګۍ هم بله شی»
« و ی مشغو لتیا د خپله ځا نه سر ه هیر وی جهان دبل جها ن په خا طر »
« بیا شی د ژ و ند ه سر ه مینه پید ا داسې چه ژ و ند کړمه قربان تر ژوند »
« د ا چه شهر ت دپار ه پر یوز م تربام د غه جنو ن او لیو نتوب شی پا تې »
« خو بیا ښه ځیر د غې د نیا ته شمه داچه صلاح دژوند په څه کښې شته ده»
« د ې کښې چه ځان غواړ م جهان دپاره ا و که جهان کړ مه قر با ن تر ځان »
« کله لا سم غو ند ې سړ ی شمه و ا یم سړ ی ټو ل بر ا بر ښه دی »
« ا غا ا غا و لې مز د و ر څه معنـا؟ ! دغه خوټول یولوی عذا ب دی زړه ته »
« ا شنا ! تر ټو لو ښه همد غه بو لم د ا چه ته و ا یې صلح ا من غواړم »
« شخړې د ې و ر کې شی سلا د غه د ه په ګډه ژ و ند څو مری مزه لری »
همد غه خیا ل چه د ر سره وی اشنا په د غه هیله ځا ن ژ و ند ی بولې »

ډ یر مبا رك و ایم ا شنا مبا رك
ستا د غه نیکه هیله غو اړم ژوندی

(٤٠)

خو شال

پردی

دښار په یوه ډیره ښکلی او ودانه برخه کښې د جومات مناره جګه ولاړه وه. دومره جګه چه هر چالیدلای شوه. رنګینه ښایسته دښکلی ماڼیو له منځه راوتلې وه. نری او جګه ښکاریده. نخچې نخچې دیوال باندې سرې شنې ښیښې له وړو کړکیو سره مخپور ته جګې شوی وې. لوړه مناره مخپورته لږه نری شوې وه. سپین ږیری بوډایې څنګ ته پر بام بوټی ولاړو له خپلې لینده شوی ملا او نری سپینې زمنځ شوی ږیرې سره ستومانه ښکاریده.

لاندی یې دواټو نو تورو مخو نو ته کتل چه واړه، غټ، اوږده، لنډ موټران او کراچی ترې تیریدې، ښکلی دوې پوړی ماڼی په ښکلو وړو بڼو کښې ولاړې وې. دلمر ماز دیګری زیړ ووړانګو مینځل شوو او جارو شوو پلیو لارو باندې وړې غټې - رڼې شګی ځلولې.

دښاروالی زړه لاری له خټو او مردارونه ډکه درول شوې وه. څو تنو چه غټ کاږه واږه سر کاری بوټونه یې په پښو کښې وو د سولو ل شوو یومانو په خو لو باندې دلښتیو تورې خټې ار لویدلی خاورې پورته کولې. ګردی کږې وږې له وطنی ټو کرانونه جوړې شوی شپوګانې یې په سر کړی وې. یو په د غو کښې چه د سیلو غټه ډوی یې له حبیب نه راوتلې وه لویدلې لوټې یې دسرك له مخ نه جارو کولې. توره ږیره یې ځای ځای سپینه شوې وه. دپاسنی کنډوې شونډې په سر یې اوږده بریت سر ښکته پراته وو. تورې رڼې سترګې یې مښل شوی اولنډې شوی جارو خواته نیولی وې.

دوچویلی په کتو کتولیکو کښې یې له رنځ او کړاونه ډکې زړې خاطرې پټې شوې وې.

هغه وخت چه دی لا ځوان و په کلی کښې یې دجومات خادمی کوله. په ژمی کښې به یې دجومات دپاره خس خاشاك - اغزی او د ډاګو وچ بوټی ټو لول - داور سرې لمبې چه پورته به جګې شوې او جومات بې توداوه او زیړ وږمو لوښو چه دمحراب نه لاندې غو لی به یې پټ کړی و، لاتر اوسه یې په زړه کښې ګرځی. دجومات سپیره چوتره او دچړیانو غټ نری پر له پسې آوازونه یې لانه دی هیر شوی. وروسته یې ځان غوندې دنیستمنې کونډې لورواده کړ. څو بسو ې پټی چه له پلا ر ه ور پاتې ودواده

خرڅ دپاره یې په کوم شتمن خرڅ کړی و . دخپل کار په مزدوری کښې به یې له خلکو نه وچه، لنده، ډوډی اخیسته اوله خپلې ښځې سره به یې شپې اوورځې تیرولې. خپله ښځه ډیره وربانده ګرانه وه. ښکلی، تکړه، سره اوسپینه ښکاریده. په خپلې نیستی کښې یواځې دښې هوښیارې اوښکلی ښځې خاوند و . دواده یې څومیاشتې نه وې تیر ې کړی چه د یوقتل په الزام ونیول شو . چادجومات په خوا کښې یوسړی وژلی ، خدا ی خبر چه هغه په څه مړشوی و. خودی چه له ټولو کمزوری اوبې خولې شانته ښکاریده، دزندان تورو تیارو ځان ته بللی و، چه کلو نه کلو نه یې د ژوندا نه خو ږ ې هیلې ور تر ځې کړ ې ، له کلی اوجومات نه یی جیل ته راوستی وچه دژوندانه په تر خو کړاو نویی اخته کړی .

څه مو د ه چه د ی په خپلې سیمې کښې بندی و، ښځه یې راتلله او خبریې اخیسته . کله څه وچ سو کړك او کله به یې تر و ې مرو ې ورته را وړلې او څیری کا لی به یې و ر ته پیوندول. وروسته یې ښځه هم ورته نه راتله ، چاورته ویلی وو چه کور کښې یې زوی زیږیدلی دی . دز ندان شپې اوورځې هغه وخت ډیرې ترخې پر ې تیرې شوې ځکه چه دی یې نه وپرایښی چه خپل زوی ووینی. او هما غسې یې دښارلوی جیل ته را و ستلی و. نور یې د لته دزوی اوښځې پته و نه لګیده . دزندان ژوند ډیر تریخ پرې تیرشو. په یوې وړې کو ټې کښې به لس - پنځلس تنه یو ځا ی پر ا ته وواودلمر تود ووړانګو به په ډیرزیارله وړې پلنې دریڅې نه چه ختې- خاورې پرې پرتې وې سردننه کړی واودغټ وره زنګ وهلی و سپنې به یې بند یانوته ښو د لې . څه و چ سو کړك او دډوډی خڅوزی به یې چه سهار وختی خوړلی وو نوبیا به ماښام ستړی ستومانه وزی تږی له نورو بند یا نو سره له کار نه بیرته کوټې ته دننه شو .

دشپې به یې په تورو تیارو کښې او دورځې به یی دلمر تودووړانګو لاند ې چورت واهه له بندنه به خلاص و. کلی ته به روان و ښځه به یې لیدلې وه زوی به یی ښکل کړی، اولیدله به یی چه هره شپه - هره میا شت او هر کال لوئیده -غټیده او تکړه کیده- سورسپین ښکلی زوی به یی تکړه اوغوښن ښکاریده. له ملانه به یې ښه لوست کاوه. بیدی اومرد کی به یې له وړوسره نه کول .

له پلار سره به لګیاو کاریی کاوه. ګټه یې ورته کوله اوپیسې به یې ور ته ګټلې . له

پاسرواوزیرمونه ځان ته کوراومځکې اخیستی وې په هغو کښې به یی پسونه، غوایان-اوڅاروی ساتلی وو . د شپې به په اوږدود هلیزونو کښې سپاهیانو څار کاوه ، کږووږودرنوبو ټانو به یې له راوتلو غټو میخو نو سره ځانو نه په غولیو، چه له تیږونه پوښل شوی و کلك کلك وهل کوم آواز به چه ترې جګ شو د ګړی ټیك ټاك غوندی له غټو دیوالونو اوپنډوورو څخه دننه دده تر غوږ ورسیده. کله کله به دڅار کوونکو صاف آوازاو نارو چه یو بل ته به یې وهلې دزندان ارامه اوتیاه هواځو روله .

دورځې به یی شاوخوا- چارچاپیره پیره داران لیده چه ټوپك یی بر چه کش په غاړو کښې اچولی، امیدونه اوهیلې یې له ځوانی سره ورو ورور خاورې کېدلې . نورو کرغیړنو دیوالونو یې زړه غور ځولی و .

تورشکیدلی دبریښناشواړمزی یې بدایسیدل. دغټ وره سپین مښل شوی ځنځیر یې له پامه بدشوی و. یواځې یې دبند د خلا صید وشپې ورځې شمیرلې چه خلاص شی او خپله ښځه اوزوی ووینی. کوم وخت چه له بندنه خلاص شواودسپاهیانو ددووپر له پسې لیکو له منځ نه تیرشود باندې هوایې لږسږمو کښې ننوتله ځان یې خوشحاله اوخپلوا که ګاڼه .

کوم وخت چه کلی ته تلویوه پك چه پخوایې هغه ووړماشوم لیدلی و، ورته یې داسې وویل :

ته چه بندی شوې په کور کښی دې زوی وزیږیده چه بیایې ښارته بوتلې، ټولو ویلې چه دښار لـه جیل نه تښتیدلی دی . ښځه دې هم دظالمانو له ډاره له دې ځای نه وتښتیده .

خدای خبر چه چیرته یې ځان الونیا کړ .

وروسته یې داسې وویل :

دبر کلی ملا ویل چه ښار کښی یې ګد ایی کوله .ددې زمانې ملایان دی خدای زده چه رښتیایی وویلې او که دروغ .

دخپلې ښځې اوزوی دمیندلو په هڅه ښارته راغی اوپه ښاروالی کښې دچوپړاوخدمت دپاره ومنل شو. شپې اوورځې، میاشتې او کلونه پرله پسې تیریدل. ژمی، پسرلی، دوبی، منی، به راتلل او بیرته به تلل. خودده ښځه اوزوی نه راغلل او نه لاړل، نه یې ولیدل او نه ترې خبرشو. یو ارمان یې درلود چه خپل زوی ووینی چه څنګه انسان دې. خپله ښځه ووینی چه دادومره وخته یې څه کړی دی ؟ چیرته تللې ده؟ اوڅه یې خوړلی دی.

اوس یې هم جارو په لاس کښې وه اودښاروالی دلاری شاته یې سړك جارو کاوه، دخیال په سیند کښې لاهووسودایی و . خپله ښځه یې لید له چه چټه ښکلی یې مخې ته ولاړه ده که څه هم دسر

ویښتان یې کوم تار سپین شوی ووخو بیا هم دپخوا په‌شان تکړه او ښایسته‌وه زوی یې تر څنګ ولاړو او مورته یې ویل :

موري همدامې دادادی.

او زویه دادادې همدادی .

زوی یې ښکلی، سوز سپین هلك وچه غوښنی اوخندنی ښکاریده، دهغو هلکانو په‌شان چه‌ده په‌دې لروبر موټرو نو او ګړندیو کښې لیدلی و.

دی په‌همدې چورت کښې وچه‌د مازدیګر آذان یې واوریده سر یې پورته کړ .

دښاروالی زړه‌لاری جومات ته‌نژدې رسیدلې وه، سپین زیری ملاخپل نری اووچ لاسونه تر غوږ ورسولی وو، سپین لستونی یې سر کښته تر څنګلو تاوراتاو، خوله‌یې پرانیتی وه . آوا زیې دومره نه‌وچه‌لرې لاړشی. دښارشوره‌ماشوراوغلغلی وخوړاوهماغلته‌به‌یې غلی کړ. دمازدیګر زیرې پلوشې دجو مات لوړه اوښکلی مناره روښانه کړې‌وه. مخې ته‌یې ډنګر، زیړ زیبښلی هلك له‌خپلې کړاووهلې مورسره ناست و . دخپلو ورك‌شوودمیندلو په‌هڅې کښې ور نژدې شو ، دوه‌شلیدلی خوارډنګر انسانان یې ولیدل چه ورته کتل یې .ویې پیژندل ښځه‌یې وه او بل یې هم ګوندی زوی وچه‌دمیندلو دپاره‌یې کلو نه کلو نه‌پسې زیار ویستلی و .

مناره هما غسی جګه‌ولاړه وه . ښکلی ګړندی اولاری اخوادیخواتلل اوراتلل . هر یولګیاو خپل کار یې کا وه ستو مانه ملا له بام بوټی نه‌دهمسایه په‌زوررا کوزیده. لاندې دواټ تور مخ ته‌یې و کتل هلته‌یې جا رو کښې ولیده‌چه‌له‌خپل ورین تندی اومسکی کنډوې شوندې سره یې دخپلو ورك شوو خواته کتل. ښځه هم مسکه‌شوې‌وه. خوخندایې له بدبختی اویأس سره‌ملګرې‌وه. نری کزه‌غاړه‌یې دزوی خواته کزه شوې‌وه، خپل ګونځې مخ یې په تور خیرن ټکر ی کښې نغښتی واودوه ځلیدلی له کړاونه ډکې ستر ګې یې ترې ښکاریدې .

زوی یې تر څنګ ناست و. دزړې پیوندی کرتی څنګلی یې ګردې شریدلی وې اومښلی تارونه آخوادیخواترې اوتلی و. دشلید لی پرتا ګه پرتوګاښ یې دخیری شوی او لنډ کمیس نه دباندې راوتلی و. سوز ـ سپین غو ښ اوتکړه نه‌و. هډو کی یې دپستو کی لاندی راوتلی پټو ښځه‌یې هم مړاوې شوی‌وه، ځوانی تللی وه ستومانی اوزړ بوډی راغلی‌وه. مستی اوتکړه‌والی تللی و .

محنت او ما یوسی را غلې وه. که لومړی خوشحاله شوچه‌ښځه اوزوی یې مینده کړ ل خووروسته‌غمجن شوی وچه خوار ان کړاو وهلی اوربړیدلی و .

ده‌دټولوشوو ۲۵ پولیو خو اته چه دښځې دغوړول شوی‌ټیکری په پیځکه پراته ووپه ځیرځیرو کتل اوبیایې وروغوندی دوچویلی خوله‌وچه کړه. ده‌دنا امیدی‌ځپیړ ې ډیر ې خوړلی‌وې خوداواریی دخپلو امیدو لوړه او ښکلی‌مانی‌نړیدلی‌ولیدله‌ده تصور کاوه‌چه‌ربړ اوه‌حنت‌یواځې په زندان اوتورو تمبو کښې، شته‌یواځې هلته‌انسان مړاوی او ماءیو سه کیږی. له‌دې نه‌نه‌وخبرچه‌بې وزلی‌او بیکسه هرځای ماءیوسه او کړاووهلی وی هر ځای غمزپلی اوویرژړلی‌وی.

ښځی‌یې‌حیران‌حیران ورته کتل دی‌یې‌چورتی اواندیښمن‌ولیده‌وپوهیده چه‌غریب‌انسان‌هیڅ کله‌نه‌خوشحالیږی دمیړه په ځوانې ځیر ې باندې یې دنیستی‌ګر داو دو ړې پرتې وې. خوشحاله‌نه‌و. نه‌یې خندل. کنډوه‌شونډه یې نه مسکیدله. خولې نه‌یی‌یواوږداوسویلی‌ووت‌ددې له‌سترګو نه‌هم‌یوه‌توده‌اوښکه کښته‌ر او بهیده. کوم‌وخت‌چه‌بایددوی‌خندلی‌وای، خوشحا له وای غمجن اوخپه‌شوی‌و، کړ اواو محنت‌خپه کړی‌و. مأیوسی‌او ناامیدی‌رنځولی‌وو. پلار یې دزوی‌خواته‌و کتل هغه‌هم غلی‌ناست وهیڅ یې نه‌ویلې‌پوښتنه یې و کړه.

«دی‌ولی نه‌غږیږی؟»

غوښتل‌یې‌چه‌واوری.

«زو یه‌ولې چپیې؟ هغه دی دادادې شکر پیداشو» اوزوی یې په جواب کښې ووا یی «موري همدامې‌دادادی؟» خوددې په‌ځای یې دخپلې مأ یوسې ښځی اواز وا وریده چه ویلی یې.

«خوار کی ګونګی دی»

یوزوی یې‌درلود هغه هم‌ګونګی‌وخوت. دخپل وچویلی خوله یی وچه کړه اوورو یی دجارو په لاستی سر کښېښود اوغلی کوپ ودریده‌ګوندی دخپلوستر ګو اوښکی یی‌وچې کړی‌وی. خوچاو نه‌لیده چه‌څه‌یی‌و کړل.

زیړی پاڼی د جګ پنجه چنار په کږ و وږو خاښونو او څانګو کښې‌ځوړندی پاتې وې دمنی سوړ باد به اخوادیخوا ښور ولې. څودانی به یی لاندی لالهانده کړی.

څه به‌وچوخا شا کو اوراوتلو منیزو کبلو ځان سره وساتلې اوڅه به یی با غوان جارو کړې اوځان سره به یی یوړ ې.

اندیښمن ګونګی دلوړ پنجه چنار زیړو پاڼوته کتل چه څنګه خزان وهلی لا ند ی لالهانده دی.

دی په لمدو او نمجنو شګو نا ست وا و دکوټه شووشګو څنګ سره یی ووړ له‌ختو

جوړ کړی ګړندی پورته کښته دشګو په وړی غونډۍ باندی ځغلا وه اوپه وړې غونډۍ باندی یې کږی وږی لارې جوړې کړی وې .

مخامخ یی لوړه اوښکلی ماڼۍ چه سپین دیوالونه اوشنی کړکۍ یې لرلې ولاړې وې دګلابو په اوږ دولښتو چه سر پورته لیندی شوی وی درڼو او بوڅاڅکی ځای په ځای دازغیو څنګو سره ځوړند ښکاریده دکبلو لوی چمنونه دیخوسیلیو دلاسه ټاپی ټاپی زیړ شوی و دمخامخ پولی څنګ سره اوږ دنری سوری چه دننه دخاورو په تیارو کښې ورك شوی و کله کله به تری مزې سر دباندی راوویسته . اورڼې سترګې به یې دګونګی خواته و نیولې اوبیا به بیرته دځمکی زړه کښې ورکه شوه . دماڼۍ یوه اړخ ته پرشنې رنګ شوی چوکۍ باندی یوه ښکلی پیغله ناسته وه ورځپاڼه یې لوستله غټ ببر سپی یې تر څنګ پرخاورو پروت و دسپی له وازې خولی نه اوږده سره ژبه راوتلی وه . ځینی سپین تیره غاښونه یې دور یوله منځ نه دژبی لاندی پټ شوی وو. ښکلی دڅرمنی غړوندی یې ترغاړی تاو شوی و. اودلاندی یې وړه دځنځیر دکلکولو دپاره سپینه دو سپنی کړۍ ځلید له .

ګونګی داڅوشپی اوورځی د خپل پلار خوارې کوټی ته چه د جګی اوښکلی ماڼۍ څنګ سره ولاړه وه له خپلی مورسره یوځای راغلی و. د لته یې پلار ددی ماڼۍ خاوندانو ګاونډی کښینولی و . پلار به یې سهارو ختی له خوبه پاڅیده یوه مړۍ ډوډۍ به یې وخوړله دخپل کارخواته به وخوځید دښار سړکونه به یې جارو کول. ماښام به وږی تږی بیرته کاله ته راته . دی اومور به یې هم سهار د خیرات اوګدایې دپاره له کوره ووتل اوماښام به ستړی ستومانه کورته بیرته را غلل .

نه پوهیده چه پلاریې څوك دی و لی یې مورورسره یوځای ډوډی خوری. حیران وچه دا پردی سړی څنګه یوپه یوراپیداشو. دپلار کنډوی شونډی دسرویښتانو او اندیښمنو سترګوته یې ډیر وکتل خوهیڅ ونه پوهیده چه دی څوك وهرڅومره یې چه چورت وواهه هغومره ورته نابلده ښکاره شو. که مور یې هرڅومره په اشارو اوخبروورښودل چه دی دې پلاردی، دی به نه پوهیده هغه مینه چه زوی دپلار سره لری ګونګی دپلار سره نه درلوده هغه څه چه بایده و پلارور سره کړی وای شتمنوورسره کړی و هغومره نه چه دی پری ښاد شی هغومره چه دی پری ژوندی پاتی شی .

ربړاو زیارووینی نوځکه نه ده خپل پلار پیژانده او نه یې ترې دمرستی هیله لرله. مینه مادی نعمتونه منځ ته راولی محبت او علاقه د مادی حوایجود رفع کولو اوسر نه رسولو دپاره منځ ته راځی. په څه یې دپلار سره مینه کړی وای هغه هیڅ نه پیژانده چه څوك و اودڅه دپاره داڅوشپی اوورځی ور سره مل شوی و.

دی له موره کوڼ پیداشوی و نه یې څه اوریدلی واونه یې څه ویلی و.

پرون مازدیګر یې ډیری پیسی ګټلی وې. دومره پیسی چه یومزدوریې په ډیر زیار په یوه ورځ کښې ګټلی شی. موراوزوی خوشحاله وواو خوشحاله راپاڅیدلی وو. دوی دپلیو په لارد کاله خواته روان وودعکاسی جګی ونی دسر کودواړو خواته جګی ولاړې وې. ددوی دپښو لاندی به زیړوپاڼودمرګ زګیروی کاوه.

ډنګره موریې ددیواله اړخ سره و ښویده اوولویده نمجنوخټواوبی ژواکوپښو ښویولی وه دماښام په تیاری کښې هماغسی لویدلی پاتی شوه دمورسوړځان اوراوتلی سترګی یې هماغسی پاتی شوې وږ ده نری پښه یې لو څه له تور ټیکری نه دباندی راوتلی وه. دورا نه پستو کی یې خیرن په ویلی شوی غوښی ټول شوی وو.

ګوندی دمورزړه یې دریدلی و. مور یې مړه شوی وه. کاله ته لاړ اوپردی یې له لاسه راکش کړ. یوووړډنګر کوکری د ده مړه ښځه بو یوله کله کله به یې خپله نری لکی دشپی په تیاری کښې وښوروله دی حیران و داڅوك ده چه دلته بې ژواکه اوږده غزیدلی ده. یوه زیړه خزان و هلی پاڼه له ونی نه ورو ورو دډنګری مړې ښځی په اوږو را پریو تله. ښکلیو ګړند یور ڼوچرا غونو به خپل مخامخ لاره رو ښانه کوله اوتیریدل به.

شل ګامه وروسته دښاروالی نل د باندی راوتلی واوله وړو کې سوری یی اوبو دا ره وهله. داوبونری اواز اودموټرو ار نونه به دماښام په هوا کښی اخواډیخواخوځیدل.

دګونګی مورمړه شوی وه — نن یی پلار تللې وچه هغه ښخه کړی. ددې دمحیط کړاو اوربړنه پاتی پستو کې او هډو کی خاور و ته ور کړی ووچه هغه یې وخوری. ځان غوندی یې ترابده مړې شوې هیلی مړې وساتی. ګونګی ډیروهد یروته دخیرات اوسخات د پاره تللی و. دقبروپه منځ کښی یی دانسانانو کپری اوهډو کی ډیرلیدلی ووچه په پسر لیو کښی به دباران دزیړواوبوسره دقبروپه تیارو کښی ارام ویده شوی و.

اوس یې مور وړ ی و ه چه هما غلته یی دبی‌شمیرو مړاوی اوبی ژوا کو انسانانوسره ښخه کړی. ددې آخری ژوند کمال‌همداو چه مړه‌شوه . دژوند وروستنی هیله یی داوه چه بس ژوندی پاتی شی،پیسی پیدا کړی او کړاو وز غمی ،

ګونګی یو سوړ او زړ اسویلی و و یست موټریی ځای په ځای چه تراوسه‌یې دشګوپه سرځغلاوه پریښود اومخامخ‌یې‌مزې ته‌و کتل چه هماغسی لګیاوه دژوندانه په مخه کښی یی زیار ویست اوله تور سوری نه‌یی نمجنې خاوری راویستلی . ځووړی مرغی دپو لی په سرناستی وی‌اود نس دې کولود پاره یې هڅه کوله او خپلی وړی مښو کی یې په نمجنو خاورو کښی‌وهلې ګونګی‌هم‌جګ‌شواویوازی دګدایې دپاره دبا ندی ووت چه څه و ګټی اوهغه وخوری. ماښام یی پلار ستړی‌ستومانه کورته راغی . اند یښمن اوسو دایې یې‌هری خواته کتل کوټی ته ننوت هغه یی روښا نه کړه پاس ددیواله‌څنګ‌ته‌دوه‌دلرګی میخونه یوه‌نیم لویشت لرې ټومبل شوی‌ودهغی په‌سر رایل اوپه سر قران مجید کیښو دل شو ی و درایل رنګ ټاپی‌ټاپی الوتی‌واوځای‌ځای‌لالږ لږرنګ پاتی وپه څوټوټواوښایسته دسمالونو باندی چه دده په نیستی کښی یواځی همدا سپیڅلی اونوی‌وچه‌داخری‌پوښ په کنج کښی یی یوه اوږده تارچه دپوښو دټینګو لو دپاره ورپوری ګنډ ل شو ی نغښتی و .

پلارې ګرده دښار والی خو لی له سر ه لری کړه او زړه ر یتا ړ ه چه د پخو ا نی شکیدلی پګړی نه‌ورته پاتی وه په‌سر وتړله هغه هیلی اوارزوګانی یی چه په جیل کښی څو کا له و ر سر ه مشغو ل و د ډ یر غم اودردله‌احساسه‌سره‌سو که‌سو که‌ویده کړی . زوی یی ګونګی و اوډ نګره ښځه یی مړ ه شو ی و ه .

نن‌یی‌خپله ښځه‌ښخه کړه. دښاروالی‌څونور ملګری هم‌ورسره وو . هغو دده ښځی ته قبر و کینده‌اوهغه یی هلته دخاورو اوتیز ولاندی کیښودله نه‌چاپسی‌خیرات و کړه‌اونه چاپسی وژړل یواځی دی وچه‌غمجن ناست‌و.سودایی اواند یښمن‌ښکاریده . نا توانه خپل سریې‌په خپلی وړې بسترې کیښود اود غمونوپه لوی دریاب کښی لاهو شو .

سریې پورته کړاخواد یخوا یی و کتل . ګونګی زوی یی هم دشپی‌تردی وخته راغلی نه و.دباندی‌ووت هلته هم نه و. با غ کښی هم‌نه‌و کوڅی‌ته‌لاړ-هری‌خواته‌یې‌منډی‌ووهلې

ګونګی زوی یې هم چیرته تللی و. دخواری غریبی په هڅې کښې یې چیرته ځان الونیا کړی و.

ستومانه بیرته کورته راوګرځیده. بیرته په واړه ځاځغلی باندې یې سر کیښود. کوم خیال اوچورت یې چه په جیل کښې و هلی و، کوم دنیایې جنت یې چه په خیال کښې جوړ کړی ویوې هم ترسره نشو.

ژوندون پر له پسی تیریږی. وګړی را ژوندی کیږی او بیرته مری. په دوی کښې ډیر په امید پیدا کیږی او نا امید مری. ګوندی دی هم دهمدې دپاره پیدا شوی و. چه نا امیده مړشی، خپلې هیلې ځان سره په خاورو کښې غلی ویدې کړی. څنګه چه دده ښځه نا امیده مړه شوه، ځوانه ښځه یې وه زړه شوه اخر په لویه لار کښې وغزیدله مړه شوه.

زوی یی پیدا شو کلونه کلونه یی د ده دفکر مشغو لا همداوه چه څومره هوښیار زوی به ولری. څومره تکړه زوی به و لری څومره غو ښن سوراو سپین زوی به و لری اخرهغه هم ګونګی وخوت. بیکاره وخوت ګدایګر وخوت. دی یی نه پیژاندی، ده سره یی مینه نه درلوده، ده ته یی پلار اودادانه ویلې لاړ خدای خبر چه چیر ته وتښتیده اوچیرته لاړ.

یو ه هیله یې لاپاتې وه هغه داچه خپل زوی پیدا کړی اوخپل نیمګړی وروسته پاتې ژوند له خپل ګونګی زوی سره تیر کړی. که داوارې یې زوی لاس ته ورغی بیا به یی پرې نزدی چه له کوټی نه دباندی ووځی، په خپل سرچیرته ولاړ شی، پخپل سر مستی و کړی اوو تښتی.

خوله یی، په سپیره مخ باندی وچه شوې وه، دتیلی ډیوې په رڼا کښې یی دپښو چا ودی په ډیر زحمت سره لیدل کیده. غټ کاڑه وازه عسکری بوټو نویې ورته نژدی خولی خلاصې کړی وې، سورپطلون چه دزنګنوسترګی یې شړیدلی غوندی ښکاریدې، په دیواله باندی ځړیده. کورتی یی لاپه ځان کښې وه غونج منج ویده شوی و.

(۳)

دجومات لوړه مناره به مخپور ته هما غسې جګه نری په کلونه کلونه ولاړه وی ډیرې ماجراوې اوواقعې به ووینی. دشنه اسمان له غیږې نه به لاندی خلکوته ګوری. څنګه چه اوس هم ولاړه وه، په سرك باندی خلکوته یې کتل چه لرو براخواد یخوازغلی.

دګونګی پلار خاورې اولویدلې پاڼی چه له ونونه لاندې لویدلې وی جارو کولې داوزده اوپلن سرك

دواړو خواوته لغړې ونې ولاړې وې پاڼی یې ځای په ځای زیړی نښتی وی او ځینی یې چه لویدلی وې دوړوو چو لښتیو خو اته جارو کید لې دونو په ځینو څا نګو کښې او دسرك ولا ړو ستنو په مزیو کښې د وړ وماشو مانو ګوډی ځړیدلی وې» دمنی سړو بادونو به کله کله و ښور ول .

ګودی به ورپیدلې او کوم وخت چه به بادتیر شو غلی به بیر ته. په خپلو ځایو کښې ځوړند پاتی شولې. لمر له خپلو زرینو وړانګو سره سر له جګو غرونه راویستلی و . سها رډیر خلك لاله خوبه نه ووپا څیدلی، هوا نه وه توده شوی لاری ډیری په لار تللې خوښکلی ګړندی یو یو ډیر کم تیریدل یوه شپه وروسته هوالږ توده شانتی شوه خلك هم شیبه په شیبه زیاتیدل، تش راغلی سرویسونه له خلکونه ډکیدل او په مخه به یې یوی خواته لاړل . ځینی خوبه چه نوی له خوبه پاڅیدلی وو دسباناری دپاره یې له دوکانو څخه سودا اخستله .

دګونګی پلار داڅوورځې بیخی سود ایی شوی و څومره چه ډنګرو هغومره نور هم ډنګر شوی و. دښځی مرګ اود زوی ور کیدلو ډیر ستومانه کړی و. اوس یې دخلکو منځو کښې په لارو او کوڅو کښې دخپلې ور کې څار کاوه. چه مینده یې کړی خپله وروستنی هیله یې نوره نشوای زغملای چه خاورې شی . مخا مخ یې دسرویسونو په تم ځای کښې سترګې په خپل ګونګی زوی ولګیدې چه ولاړو او په خپل لاس یې دیو جګ ښکلی تنور څادر کلك نیولی خیرات یې تری غوښته . هغه پیسی نه ور کولې اودی نه ترې ته، څه یې ورته ویل. ولاړو، په خپلو کړاوزغملو سترګی یې تری په پټه خوله خواست کاوه .

دپلار یې غمزپلی څیره وغوړیده .خوشحاله شو. ګونګی یې له څټ نه کلك ونیو کوم وخت چه ګونګی ورته وکتل هماغه پردی سړی یې ولیده چه دده له مورسره یې څوشپی اوورځی تیری کړی وې» آخر داڅوك وچه دی یې په کرار نه پریښود .» ترڅنګ ولاړ سړی چه یوه شیبه پخوا یې ګونګی ته پیسی نه ور کولې له پلار نه یې پوښتنه وکړه.

ته ددې هلك څه کیږې چه خوار کی داسې ځور وې. ؟ »

«زه یې پلاریم . »

«چه ته یې پلار یې ولی نه درسره ځی ؟ »

« مانه پیژنی. »

«تانه پیژنی؟»

«هو-مانه پیژنی ګونګی دی خبرې نه اوری.»

«څنګه دې نه پیژنی پلاریې او نه دې پیژنی؟.»

«زه بندی وم چه کورته راغلم نودی لوی شوی و زه یې نه پیژندم چه موریې مړه شوه دی هم رانه وتښتیده د ګونګی پلار چه له څادر والاسره په خبرولګیاو ناڅاپه یې زوی له لاسو ځان خوشی کړ، ده چه خوار نیوه هغه بیاوخته تښتید لی و. پلاریې ورته کتل چه یو تور اوږد ښکلی ګړندی یې پر زوی ښوی تیر شو. ګونګی چیغه کړه. دومره جګه کریغه یې و کړه چه یواځی ده وانه وریدله خلك له شاوخوا راټول شوی و پلاریې بیا دوخته خپل زوی په غیږ کښې جګ کړی و له پزې او خولې نه یې وینی روانې وې . دروستی ځل دپاره یې پلار ته و کتل او دا پر دی سړی یې بیا هم و نه پیژانده چه پلاریې و. هلك اخری سلګی ووهله او په غیږ کښې یې مړ شو څنګه چه په نړی کښې غلی زیږیدلی و. هما غسی په غلی نړی کښې مړ شو .

دموټر شترنګ ته یوه ډیره ښکلی پیغله ناسته وه او په وروستی سیټ کښې غټ ببر سپی له خپلې پرانیتی خولې سره پروت و . له وړې کړکی نه یې دباندی خلکو ته کتل: ښکلی د څرمنو غړوندی یې ترغاړی تاو شوی و، اود غړوندی لاندی خوا کښې یی سپینه داوسپنې کړی ځلیدله .

د ګونګی دپلار وانی تښتیدلی وې وینه یې مخ کښې وچه شوی وه څنګه چه یو اځی وبیا یو اځی پاتی شو داوروستی هیله یی هم تر خاورو لاندې شوه .

څادر والا یې هم تر څنګ درید لی و .مړ ګونګی خواته یې کتل چه دپلار په غیږی کښې یی ساه ور کړی وه. وروغوند یې د هغه پلار ته و کتل او ویې ویل .

«ا کا! بل زوی نلرې؟»

د ګونګی پلار داواري رښتنی په ژړا شو او اوښکې یې پر مخ راماتې شوې پاس یې و کتل منارہ هماغسی جګه ولاړه وه اودزوی او پلار خواته یې کتل. یوه توده اوښکه یې دزیرې له تارونو نه په وینو کښې ولویده او هلته له وینو سره ګډه شوه.

سید احسا ن الله هیر

دوه بنې

زما پلار اود اکبر پلار سکه وروڼه وو او زمونږ مېندې سره سکه خو ېندې وې، له دغه کبله زمونږ او زمونږ دتره زامن له نورو خپلوانو سره ډېر نژدې خپل وو-زه د خپل پلار مشره لور او اکبر دخپل پلار مشر زوی و. زما پلار زماله تره نه په عمر کښې کشرو.

ماله هغې ورځې نه چه دنیا ته سترګې خلاصې کړې وې خپل کور او دتره کور مې په یوه انګړ کښې سره لیدلی وو او ددغو دوو کورو ډوډۍ په یوه دیګ کښې پخیده او د ژوندا نه په ټولو چارو کښې دمخالفت او نفاق هیڅ آثار نه ښکاریده زما مور او زما ترور-؛ دا کبر مور ډېرې خواخوږې خویندې وې. ددوی د خوږوالی او دیووالی برکت و چه د کور اتفاق برابر او ټول سره خوشحاله وو. زه له هغې ورځې چه په ښه او بد پوهیدلې او دلو بوشوې وم، نو د خپل تره دزوی اکبر سره به مې لوبې کولې، او مونږ دماشومتوب ددورې نه، سره ډېره مینه پیدا کړې وه. البته هغه وخت د ماشوم توب دوره وه او زه په دې نه پوهیدم چه زه دپلار او مور او دا کبر دپلار او مور د موافقې په اثر دا کبر په نامه شوې وم. اکبر به چه په کور کښې کوم ښه څیز پیدا کړ هغه به یې دلوبو دپاره راوړ. دهغه ټول کوښښ به همداو چه مونږ دواړه خوشحاله اوسو. کله چه به زه په کومه وړه خبره له اکبر نه خپه شوم نو هغه به کوښښ کاوه، چه په هر دستور وی ما پخلا کړی، او زما دخوښۍ وسایل برابر کړی. دا کبر دغه ګذشت او ښه رویه چه دماشومتیا په دورو کښې بې له ماسره کوله بیا په لویوالی کښې زما دژوندله ښو خاطرو او حتی د څو کلو د بېلتانه او خپګان په وخت کښې زما دارمان داغونه وو.

مونږ په دغه ګډ ژوند کښې، ډېرې خوشحالۍ لرلې. که دهغه وخت ژوندانه ته زه د دنیا دمخ دجنت دوره ووایم بې ځایه به نه وی. پلار او تره مې دلاس په تنها کو او دتندی په خو لو خپله ډوډۍ پیدا کوله. ګټه به یې یو ځای وه کور ته به یې خپل دزراعت محصولات د فصل دجګولو په وخت کښې په ډېره خوشحالۍ راوړل او په ورین تندی به دغه څومړۍ ډوډۍ خوړل کیده. دیووالی ژوندو، په لږ څه کښې به خدای

لوی بر کت اچاوه او مونږ ټول د کورغړی خصوصاً زه او اکبر به تل خوشحاله وو او په ژوندانه کښې موهیڅ دغم اثر نه و.

مونږ د خپل انګړ په شاو خوا کښې یوه محدوده ا ولږ ه د زراعت ځمکه در لوده. پلار او تره به مې ټول کال پخپلو ځمکو کښې زیار ایست او کوم وخت به چه د غلو داخیستلو وخت شو، مونږ ټول به سره خوشحال وو زه او اکبر په همدغسې ډول رالوی او دومره شو چه له لوبو نه ووتو. زمونږ دلوبو او ماشومتیا دوره تیره شوه، او هغه وخت راور سیده، چه زه دخپلې مور او ترور سره په کور کښې د کور په کارومشغوله شوم او دهغوی کارونه راباندې سپك شول. اکبر د پلار او تره د درنو کارونو مرستیال و او داوخت هم ما او اکبر مینه درلوده، مګر اوس مونږ لږ لږ پوه شوی وو او خپله مینه مو په زړه کښې ساتله او په ظاهره کښې په مونږ د کورله اعضاو و څخه لږ څه حیا کوله. مور او ترور به مې ماته د کور د کارونو په ښودلو کښې تیریده زه چه هر کار یادوم د دوی دواړو په درد به دوا کیږم او له خپلو یادو کړو کارونو نه به بیا دواړو ته فایدې رسوم. اکبر زما په پلار او په خپل پلار ډیر ګران و، او دواړو به تل داویلې چه: اکبر جان نام خدا څومره کاریګر هلك دی. دی دومره کلك راغی چه زمونږ هیڅ یقین نه و. مونږ داخیال کاوه چه اکبر جان به هیڅ سخت کارو نه ونه شی کړای، ځکه په وړ کتوب کښې به د ه تل له جینکوسره لوبې کولې، مګر په کومه اندازه چه دی په ماشومتیا کښې بیکاره و په همدغه اندازه اوس یو کاریګر زلمی ترې جوړ شو.

دمیاشتو او کلو په تیریدو مو نږ دادوره هم تیره کړه ما او اکبر د واړو ته دعمر د یارلسم او پنځلسم پسرلی دځوانۍ زیری راکړ.

اکبر له مانه دوه کاله مشر وخوزما او دهغه دځوانۍ ددورې ترمینځ دمیاشتو فرق و، خلك وایی چه د کاله لوراوزوی بې قدره وی، خودې خبرې زما او د اکبر په ژوندانه کښې هیڅ دخل نه درلوده او د کلو په زیاتیدو زمونږ مینه هم ورو ورو سره زیاته شوه او هغه وخت ته ور سیدو چه مونږ دواړه یو بل لپاره دلیلی او مجنون یاد فرهاد او شیرین مثال شو، مګر زما نې زمو نږ دغه خو ښې تر ډیره پرې نه ښوده او زمونږ دواړو دواده نه پخوانې زما تره او پلار سره جدا کړل.

-۲-

دخلکو په مینځ کښې دا مشهوره ده چه دوه مرور خپلو ان یا دوستان اشنا یان سره

پخلا کوی نوور ته دډاډ په ډول وایی چه «ځه دنیاده دوه وروڼه سره هم خپه کیږ ی» مگر زمونږ په کاله کښې دغه مثال حقیقت موندلی واو زما پلار اوتره دومره سره خپه شول چه ما اوا کبر خولاڅه چه زمونږ دمېندو چه د وه خوږې خو یند ې وې هم بیا تر ډیر و کلو دیدن سره ونه شو، پلار اوتره مې سره دد ې چه په نه خبره سره خپه شوی ووچه ز مو نږ د کور خرڅ سره جداشوی و مگر بیا وروسته دغه خپګان دومره زیات شوچه پلار می مجبور شوچه له کا کاسره مې گډ ژوند پریږد ی اوله خپل پخوانی انگړ نه ووځی او د کلې په یوه تنگه اوتیا ره کوټه کښې واړوی. لومړ ی دغه ژوند زما او دمور دپاره مې ډیر سخت و، اوهمدغه زمونږ دزړه تنگو ا لی ا و خپگان سبب و. چه پلار مې په قرض او پورپسې پیدا کړې یوه اوبل ته یې لاس ونیو اوپه ډیر زیاریې په خپلو ځمکو یو کچنی انگړ جوړ کړ خو یو نیم کال په هغه وړه کوټه کښې و ا و سید و ترڅوچه زمونږ نوی کور جوړ شواو راغلو سره له دې چه مورمې دځای په بدلون باندې لږڅه خوشحاله شوه خو بیا هم هغه د خپلې خور اودخور د اولادپه بیلتون خپه وه او زه دا کبریادځوزولم . خوتردې وخته هم زما او زما دمور داهیله وه چه نن په سبا به دواړه ورو ڼه پخلاشی زمونږ لاپه نوی کور کښې دوه میاشتې نه وې وتلې چه په کلی کښې پټه پټه اوازه شوه چه دا کبر پلار غواړی خپل زوی ته بله ښځه و کړی او سلیمه په پلار کښینوی. لږه موده لانه وه تیره شوې چه دغه اوازه رښتیا شوه او کا کا مې ا کبر ته زمادترور لورچه دا کبر هم د عمې لور کیده په نامه کړه او کوزده یې جوړه کړه دغه واقعه زما په پلار اومور ډیره سخته تما مه شوه، ځکه تره مې په دې کار کښې بې له د ې چه زما پلار اومور وځو روی اوهغوی په دې کار خپه کړی بل منظور نه در لود. پلا راو مور مې په دې خبره ډیر وځو ریدل اوتل به یې په خپلو مینځو کښې سره ویلی چه: خپگان خود دو وورو ڼو ا و خویندو تر مینځ را ځی اوبیا سره پخلا کیږی . خو لالا مې لکه چه له مونږ سره بیر ته پخلا کیدل نه غواړی ا و دښمنی یې زړه ده.

زماداخیال نه وخو هغه داسې کارو کړ چه هیڅ دمرغی لاره یې پرې نه ښوده او بیالکه چه زما دوروری هیڅ خیال نلری کلی او کور کښې خلك داوایې چه لالامې زمونږ د نوی انگړ په جوړ ولو خپه شواو دې خبرې ډ یر زورور کړی وچه ماځانته نوی کورجوړ کړو

داخبره خو ددې نه وه چه هغه دې دومره پخه دښمنۍ راواخلي. د کلي له نورو ښځو سره به چه زمامور په دې برخه کښې خبرې کولې اود اکبر دپلار او خپلې خورنه به يې ګيله کوله کليوالو ښځو به ور ته ويلې چه دا کبر جان پلار او مور دا نه غوښته چه داسې کار دې وکړي خو دا کبر جان پلار وايې چه ماته په دې ډېر قار راغی چه زما کشرورور دې ته ونه کتل چه بېر ته سره يو ځای شو. په ښو خدای راضی کيږی اتفاق او يووالی ښه شی دی دا يو يې هم په نظر کښې ونه نيول او دپلار په مشتر که ځمکه کښې يې چه ددې حق هم نلری بې زما داجازې ځانته کورجوړ کړ. دا يو سپکاوی و، زه په دې کار ډېر دردېدلی يم او ماچه دا کار وکړ مقصدمې دا وچه په کومه اندازه چه دی کشروماته يې زور راوښود نو زه خوله ده مشريم زه هم بايددی په يو څه ودندوم.

دغه خبره دا کبر له کوزدې نه ورو سته دټولو کلي والو په خوله کښې وه او بعضو ښځو به لاماته هم تسل را کړ ما به ستر ګې ښکته واچولې اوله حيانه به مې هيڅ نه ويلې

کال پس يې له دې چه مونږ خبر شوو په کلي کښې دچمبو اواز شو دوه دري ورځې د کلي نجو نو په دې مجلسو کښې ګډون وکړ اوله دې وروسته يوه دسازد سته هم راوستل شوه او پوره واده شروع شو.

په دې وخت کښې زماترور مو نږ کره راغله او پلار ته مې عذر وکړ چه زما لور اکبر جان ته په نامه کيدل يودتقدير کارو هرڅه وشول اوس ته له مانه مه خپه کيږه او په دې خبره زړه مه بد وه لالامې غواړی چه له تا سره پخلاشی نوزه تاته په دې باب کښې زاری کوم چه ته بايد زماعذر ومنې او تاسو بايد نورسره پخلاشی له دښمنۍ نه څه نه جوړيږی تاسو سره ور و نه يې او هغسې ورونه چه ستا سو مينې او اتفاق ته به خلک پخسيدل دښمن په ځان مه خوشحا له وی او خپل دوستان په دې خبرو مه خپه کوی زه خودادرې کاله ستا سودې کارواو دې بې اتفاقی داورپه لمبو درولې يم نو راځه ور وره بدمه کوه زما خبره ومنه. زه اولالامې دواړه له تا نه لوی او په تاحق لرو اخرلږڅه د حق دار حق خو وپيژنه» پلار ته مې چه عمې دغه خبرې کولې ،زه د کو ټې په يوه ګوښه کښې غلې ناسته وم او کله کله به مې دستر ګو لاندې خپل پلار اوعمې ته کتلې مګر زما پلار وار په وار په غصه کيده او دعمې ځواب يې له ډېره قاره هيڅ نه ور کاوه تر څو مې

عمي په بیابیاویلو دی زیاتی له تحمله وویسته
خو حوصلـه یې تنګه شوه اوورته یې وویل
چه:«بنو ! په دنیا کښې یومتل دی چه ستر ګې
له ستر ګو شرمیږی مګر نن دامتل هـم غلط
ختلی اوپه ستر ګوو کښې هیڅ حیانه ده پاتې
نه ماته په کومو ستر ګوداخبرې کوې ته خو نو
هماغه ښځه یې چه نه دې زماستر ګو ته و کتل
نه تر ما راغلې اونه د کلی او کوره وشرمیدې
اودښځې خاوند سړی ته دې چه ټول خلك په
دې خبرو وخپله لورور کړه او .....»

عمي مې زماد پلار خبره پرې کړه اوویې
ویل چه «ته و لی ماته دومره په غوصه یې زه
خوله تا مشره اوبیا ستا په کور کښې ناسته
یم پخپل کور کښې څوك چاته دومره ترخې
نه وایی» په دغه دو دزما د پلار اوعمي تر مینځ
ډیرې خبرې تیرو بیرې شوې ترڅومی عمه
خپه شوه اوپه قارله کوره وتله دواده سازونه
سرودونه په کلی کښې تیر شول که خلکو
له دغو سازو اوسندرو نه خوند ا خیست خو
زما د پلار اوموراومادپاره دغه اوازونه دټوپك
ګولی وې اوهره شپه به په دې خبره خپه وو
دغو سازونو درې ورځې دوام و کړواوروسته
له درې ورځو یې ورا دټو پکو په ډزویه ساز
سرود اوسندرو، دما شوما نو اووړوهلکانو په
غوغا او دځلمیانو په اټنو نو کښې زما د تره
تر کوره اوز مونږ ترپخوانی انګړه راوړه. پلار
می دې خبرې دو مره غمجن کړی و چه له
ډیر خپګان نه ناجوړ شو اوپخپله نا ر و غی
کښې یی داتصمیم ونیو چه مابل چاته په نامه کړی
اوپخپله دې خبره باندې ډیر تینګ ؤمور به مې
ورته ویلی چه نه داخبره مه کوه که ته اوورو ردې
هر څو مره سره ترخه شیء بیا هم پښتو
دانه منی چه ته د ې یوه میړ و ښه پیغله بل
چاته ور کړې له دې خبرې نه ډیرې ښه د ی
پوره ته کیږی - زمابه هم د خپل پلا ر په د ې
خبرو زړه ولوېداوډیره به خپه شوم اوله ځانه
سره به مې و یلې چه خدایه ځما څه نصیب
دی، څه بده برخه مې وه، نور خو چه هر څه
وشول بلاورپسې خیردی خوچه اوس مې پلار
د ې خبرې ته ا قدام ونکړی او زماپه سر
خدای دې نکړی پلارته څه ضرر ونه رسیږی
د غه خبرې زما د کاکا تر کا له پو ر ې هم
رسیدلې وې هغوی دد ې خبرې د مخ نیوی
دپاره او ددې دپاره چه شرم وروانه وړی ډیر
ژر خپل اقدامات شروع کړل .

سره ددې چه زماپلار د خپلې څوورځنی
رنځورتیا نه مخ په جوړیدوو، مګر کا کا مې
ددې دپاره چه زماودولو دپاره زمینه مساعده

کړی په ټولو خبر وپښې کیښود ې او زما دپلار پوښتنې ته راغی . هغه وخت چه زما د پلار دبسترې خوا کښې کیناست نوپلار مې ترې مخ واړاوه اووې ویلې چه لالا تراوسه لاژوندی یم ،هروخت چه مړشوم بیاراشه تا زماپه مخ دا سې ګلان نه دی کرلی چه زه تا سره مخ برابر کړم زه خود ې و لس کښې په ...

تره مې په همدې ځای خبره ور پریکړه او وروړاند ې شو څوځلی یې ښکل کړو او ورته یې وو یل چه ته نو نور مه په قا ریزه دتقد یر کارونه وو ، وشول ترقیا مته خوبه سره دښمنی نه کوو- په د ې دود زماپلار او تره سره پخلا شول . څو ورځې پر له پسې نور خپلوان هم مونږ کره را غلل او دد ې پخلاتوب خوښې یې اظهاروله زماد ترور اومور دیدن هم له ډېرې مودې نه وروسته وشو او ډېرې سره خوشحاله شوې اویواځې دا خبره پاتې شوه چه زما او دا کبردید ن هم سره و شی .

تره مې زمادودولو د پاره ځان برابراوه خو څنګه چه یوواده پر ې نوی تیر شوی و، او وسه یې نه کیده اوله ولس نه هم پوره قرضدار شوی و، زماپلارته یې په دې باره کښې ویلې چه: تېر به سره هېر کړواوپه بدو به خاورې واړوو دپښتواو ننګ خبره ده . سلیمه جانه بایدنوره واده کړو. خوخبره دلته ده چه زما هغسې یولوړ واده ته وسه نه کیږی،لږڅه به یې سرسری تیر کړو . که دا کبرله تېر واده نه داواده لوړنه وی نوپه کوزوالی خویې هم خوښ نه یم. خیردی ولوربه درنه نه غواړم . نوخوړه او واده ،نورڅیزونه خوباید سم وی اوپریکون هم باید یوه جر ګه و کړی . څه کونډ ه خونه ده چه واد ه یې سرسری تیر کړم ،او څه په ژوند کښې خو بیابل میړه نه کوی، د ښځې خو همدایوارمان وی . څه نا رینه خونه ده چه بیایې لاس کښې څه پیدا شی بل واده و کړی .

په دې دودمې کا کا مجبور شوچه له دریم کلی او بل ځای نه هم پورپیدا کړی اوځان تر دووغوږوپه پورونو کښې ډوب کړی. دمعمولو دودو نوسره سم زماپه و ا ده مې هم تره ښه تاوان و کړو او واده ترسره شو اوزه هم په یوه ډو لی کښې د کا کا کره بو تلل شو م .

-٥-

پس له درې یادرې نیمو کالونه هغه شپه چه زه له ډولی نه کوزه شوم زما اول ځل وچه په هغه انګړ زماسترګې ولګیدې کوم چه زما

دنیاته دراتګ نه تر ځوانی پورې د یارلس کاله په کښې تیرشوی او پر ما دا کور ډیر ګران و- زه خوالبته په دې خوشحاله وم چه زمونږ ددوه کورو ټولې کشالې په هر ترتیب چه وی هوارې شی له بلې خوازه خپل دژوندانه اصلی هدف ته ورسیدم او هغه داچه اکبر ته واده شوم ، مګر څومره مې چه له اکبر سره مینه درلوده په هغه اندازه زما د ژوند ارزو ګانې ترسره نه شوې او په دې وخت کښې سره له دې چه اکبر ته واده شوم، مګر په زړه کښې مې دا نیمګړتیاپاتې وه چه اکبر زمانه دی او زه په ژوند کښې دخپلو آرزو ګانو چه له اکبره مې درلودې خاونده کیدلې نه شم .

حلیمه سره له دې چه زما د عمې لوروه ماو هغې په وړکتوب کښې سره ډیره مینه درلوده مګر دزمانې سیراوس رنګ داسې بدل کړی و چه دهغې په مخ او تندی کښې هغه مینه له ماسره نه ښکاریده او څنګه چه زما دا کبر سره د کاکا په کور کښې څو ورځې تېرې شوې نو په دې هم ښه ورسېدم چه د اکبر مینه هم له ماسره با لکل کمه شوې او د خپلې بلې ښځې پټنګ دی .

زمادژوند تیرې اندېښنې پای ته ورسیدې او نوی غمونه مې شروع شول داچه اکبر هغه اکبر نه دی چه ما ته به یې په ستر ګو کښې دا خبره پوهوله چه ژوند یې زما د تش دیدن محصول دی، زما په ژوند اوس ډیر بې پروا او ، او له هغې سره به یې مینه او د زړه خواله کوله . ماته به یې رښتیا- رښتیا او دروغ- دروغ چه ډیر زور یې را کاوه او دا به مې له ځانه سره ویلې چه که اکبر له ماسره له هغې نه زیاته مینه نه کوی نو هغې ته خومې باید کمه و نه ګڼی .

دورځو او شپو په تېریدودا کشالې بالکل زیاتې شوې او ماته یې بیا د غم پوه نوې دنیاجوړه کړه او هغه ارزوګانې چه ماد پېغلتوب په دوره کښې د ر لودې ټولې له خاورو سره برابرې شوې که ما سره په دغه کور کښې بیا زما دخپلې ترور مینه او دهغې ډاډانه وای نو زما بند خو بالکل او بو وړی ؤ،.تره مې هم له ما سره اوس ښه وضع نه کوله او هر وخت به چه کوم پوروړی راغی نو هغه ورځ به مې تره ماته ډیر په قار ؤ دځلورواو پنځو میا شتو د پاره خو دومره خبره وه چه اکبر او حلیمې یواځې د ستر ګواو تندی په اشارو څو رولم خو پس له دې نه هغه وخت راغی چه زما عملی ځور ولو ته یې په سختو خبرو او حتی لا په ګوابښ او وهلو هم پېل و کړ. کال چه پوره کیده نو په دې وخت کښې ما د یوه اولاد امید هم در لود مور به مې

همیشه زما پوښتنه کوله او پلار مي په میاشت کښې یو وار زه کورته بیـو لم ، او په دې دود به زما غم لږ لږ کمیده .

ترور مي دستر گولاندې تل حلیمه ځارله چه زما په حق کښې څه کوی. حلیمې ته سره له دې چه په خوله به یې څه نه ویلې او دا ورته حیا ورتله مگر زه پرې پو هیدم چه په دې خبره ډیر قار ورته چه زه داولاد امید واره یم .له بلې خوا نه مې ترور له ما سره مینه کوله او تل به یې زما مراقبت او پرستاری کوله خبرې دې ځای ته ورسېدلې. چه حلیمې ما سره څو جنگو نه پر له پسې وکړل ، نو پښې یې دې ته را لو څې کړې چه اکبر به یې تل لمسوه چه ښځه خو په درېو خپله او په درېو پردی ده ډېره بد زبانه شوې ده.طلاق ور کړه چه زه او ته ارام ژوند وکړو. اکبر به ورته ویلې چه که پښتونه خرابید لی نو ولا چه ستا په سترگو او ستا د خاطر د پاره به مې طلاق ور کړی وای ماته پس له هغې چه زه د یوه خوږ اولاد د پاره امید واره وم نه میا شتې وروسته خدای یو ډیر ښکلی زوی را کړ چه زما د آینده ژوندانه د ساعت تېر یو ډېر ښه سبب شو.

په پښتو کښې خو دا معموله ده « کومه مېرمن چه د زوی خاونـده وی نو په میره ډیره منلې وی» خو دغه شرط هم زه د اکبر په نظر کښې گرانه نه کړم ،او نه پوهیږم څه سبب و چه اکبر د حلیمې په تشو خبرو باندی دومره تسخیر شوی و چه هیڅ یې زما خواته پام نه و او ټول فکر یې د حلیمې خواته و،ـ زما او دا کبر کچنی زوی اصغر لوبغاړی او دومره خوږ شوچه حتی لادپر دیو خلکو مینه پرې را تله . د خپلې نیا او خپل نیکه یگانه د ساعت تیری سبب شو او زه بیا د اصغر په سترگو په خپل تره هم لږ څه گرانه شوم. مگر په اکبر دې خبرو هیڅ اثر نه کاوه.

اکبر ته حلیمه دومره گرانه وه ، چه د هغې په سترگو یې له خپـلې مور او پلار سره هم ورو ـ ورو خپله مینه کمه کړه،او د هغوی احترام یې هم ونه شو ساتلای ځکه د اکبر د مور او پلار نظر پـه ما او اصغر زیات و او په دې خبره هغه ته قار ورته تر څو له خپلې ښځې حلیمې سره له خپل کوره وواته او دخسر کره له پلار او مور نه خپه لاړ او زه یې پر ېښودم.

میاشتې او کلونه زمونږ په ژوندانه کښې یو په بل پسې را غلل حلیمې ته خدای هیڅ اولاد ورنکړ او زه د عمر د پاره د هغې د لمسون په اثر د یوه اولاد خاونده په ژوند کښې یواځې او د خپل پلار په کور بېرته کښیناستم. (پای)

ښاغلی محمد حسین « ریدی »
له کندهار د

په لوړتیا پسې

زه هغه زلمی یمه چه درومم په لوړتیا پسې
ځم له زا په ژوند ه زه دنوی ژوند رڼا پسې
کلکه اراده ملی جذ به غواړم زلمیانو کښې
روح د تحول او تجدد اوار تقا پسې
درد د محبت زړه کښې د مینی شرا ره لرم
شپه او ورځ لګیایمه ددې عشق په سوداپسې
سر کښې لوی فکرونه ژوند انه د آزادی لرم
ځم له ظواهر و حقیقت په لو معنی پسې
بند په ځنځیرو درجعت هر څو که تړلی یم
مات به دا ځنځیر کړم د مقصد په مدعا پسې
ټوله کائنات په حرکت کښې تکامل کوی
زموږ کاروان رهی دی په بلوری په فنا پسې
مخ دتشتت او د سیلاب نیسم همت سره
ځم پر دغه لاره بیا د قوم په ارتقا پسې
زه لکه « ریدی » دقوم له غمه زړه پرهار یمه
هر چا ته دا درد غواړم نه ګرزم په دوا پسې

گل اکبر بنګښ اسلامیه کالج پېښور

د غنچې څخه د «واسعی» انتخاب

پېغلې ته

پېغلې منم چه لو نګینه یې ته
د حیا ډکه مه جبینه یې ته
سپین دې زړګی دی تکه سپینه یې ته
لنډه بس دا چه کاغذینه یې ته
خونا زپروري بیا حزینه یې ته
پټه په زړه ډېره غمګینه یې ته

چه ستا په زړه کښې زلزلې پرتې دی
د پاکې مینې سرې لمبې پرتې دی
بیادې جذبې ولې سړې پرتې دی
سړې لا څه مړې ایرې پرتې دی
په بې وسۍ دې ګلې پوی شومه زه
دادې په پښو کښې ځولنې پرتې دی

ته خو له ډاره څه ویلی نشې
حال د زړګی چا ته ښیلی نشې
پټه ژړیږې پټه ژاړې به تل
ته چه رسمونه غورزولی نشې
ته په دنیا کښې چه څه حق نه لرې
دا د رواجه خلاصېدلی نشې

دا دې چه واک ګلې پردی دی کنه
تل دې په غاړه غړوندی دی کنه
دزړه براس دې چه تیزیږی ورو ورو
نو دې حالت د بې وسۍ دی کنه
د سمندر په شان چه اور کښې پاڼې
دا خوستم په تا دلی دی کنه

له سوی زړه که ګلې «آه» او کاږې
دغه جهان به سره لمبه شی هلته
ښوربه ـ ې «آه» شی په جهان نا څاپه
داوچ لونده به لو لپه شی هلته
نه به دا ظلم ـ نه ستم پاتې شی
کور د اولس به ویرانه شی هلته

بیا به څه نوی شان جهان جوړ شی
ډک به د مینې ګلستان جوړ شی

KABUL

Monthly Journal of the Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy, Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M.Sidiq Rohi

Coaditor : M.Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه